د استاد روهي د دويم تلين په مناسبت

# رنګين تعبير

Download from:aghalibrary.com

کانديد اکادميسين سر محقق محمد صديق روهي

# رنګين تعبير

د ځينو اوسنيو ادبي آثارو په باب ليکنې او يادونې

ليکوال

کانديداکادميسين سرمحقق محمد صديق روهي

ټولوونکی

سيد افضل شېرزاد

۱۳۷۷ لمريز

Download from:aghalibrary.com

# د کتاب پېژندنه:


| | | |
|---|---|---|
| د کتاب نوم | : | رنګين تعبير. |
| ليکوال | : | کانديد اکادميسين سرمحقق محمد صديق روهي. |
| ټولوونکی | : | سيد افضل شېرزاد. |
| د چاپ شمېر | : | ۵۰۰ ټوکه. |
| د چاپ ځای | : | پېښور. |
| د چاپ کال | : | ۱۳۷۷ ل/ ۱۹۹۸م. |
| خپروونکی | : | دانش کتابتون، قصه خواني، پېښور. |
| | : | |
| کمپوزر | : | حفيظ الله. |



ټول حقوق محفوظ دي

Download from:aghalibrary.com

# فهرست

| عنوان | مخ |
|---|---|
| سریزه | ۱ |
| د مدون څو یادونې | ۵ |
| دا شعرونه | ۱۰ |
| ننواتې | ۱۴ |
| د سحر په غېږ کې | ۲۰ |
| پل ته یوه کتنه | ۲۳ |
| د هیلو ګردونو ته یوه کتنه | ۲۹ |
| باولۍ یا د وخت رمز | ۳۳ |
| متکور | ۳۸ |
| په اوسني پښتو شعر کې د نوښت مسأله | ۴۲ |
| شپېې | ۵۰ |
| د څپو پر وزرو باندې | ۵٦ |
| په پښتو لنډو کیسو کې ریالستیک افکار | ٦۴ |

Download from:aghalibrary.com

بسم الله الرحمن الرحیم

# سریزه

په افغانستان کې د پښتو ادبیاتو د څېړنو د بهیر مطالعه دا راڅرګندوي چې د روانې پېړۍ د دېرشمو کلونو په جریان کې زموږ په ادبي څېړنو کې ځینې نوې خبرې را څرګندې شوې؛ د ځینو څېړونکیو او ادبپوهانو په آثارو کې ځینو داسې نکاتو ته اشارې ولیدل شوې چې د نویوالي خوا ته تمایل پکې څرګند و. هغه وخت په ځینو مقالو او لیکونو کې د ادبیاتو اوپه خاص ډول د شعر او نورو ادبي آثارو په باب داسې یادونې وشوې چې د ادبیاتو او ادبي مطالعاتو په اړه یې زموږ پر فرهنګي چاپېر له مسلط ذهنیت سره توپیرونه ښوول.

د ادبیاتو او ادبي مطالعاتو په باب د دې نوي تمایل او نویو خبرو د پیدا کېدو علت دا و چې زموږ ځینو نومیالیو فرهنګیانو او یا د وروستیو څو لسیزو ادبي څېړونکیو او ادبپوهانو پوهنتوني زده کړې

وکړي؛ خارجي هېوادونو ته لاړل، خارجي ژبې يې زده کړې او خارجي آثار يې مطالعه کړل، دغو نويو زده کړو، مطالعاتو او کتنو دغه کسان د ادبياتو او ادبي څېړنو په باب له نويو روشونو، ميتودونو او نويو نظريو سره اشنا کړل.

شهيد پوهاند دوکتور سيد بهاءالدين مجروح (۱۹۲۸ - ۱۹۸۸)، پوهاند دوکتور حبيب الله تږي، کانديد اکادميسين پوهاند دوکتور محمدرحيم الهام، استاد سعد الدين شپون، کانديداکادميسين محمد صديق روهي (۱۳۱۲ - ۱۳۷۵ش) د دې ډلې لومړني استازي وو. دوی زموږ فرهنګي حلقې د ادبياتو په باب له نويو نظريو او نويو تمايلونو خبرې کړې. دې ډلې د څلوېښتمو، پنځوسمو او شپېتمو کلونو په جريان کې نور ملګري هم وموندل او دا کوچنۍ ډله يې پياوړې کړه.

دې هڅو په وروستيو دريو لسيزو کې غځونې وکړې او زموږ د ادبياتو څېړونکي، ادبپوهان او نور مينه وال يې په دې پوه کړل چې:

(۱) هر نظم ته موږ شعر نه شو ويلای، شعر خپلې ځانګړنې لري؛

(۲) هره حکايه لنډه کيسه نه ده؛

(۳) د داستاني ادبياتو د ژانرو ځانګړنې څرګندې شوې؛

(۴) هره ليکنه او هر ډول منظومې په ادبياتو کې نه شاملېږي او نه د ادبياتو په تاريخ کې د مطالعې ځای لري؛

(۵) ادبپوهنه د يوې ځانګړې پوهې په توګه زموږ په څېړنو کې مطرح شوه. اصلي او فرعي څانګې يې وښوول شوې، د ادبپوهنې په اصلي څانګو کې ادبي تيوري د يو نوي مضمون په توګه د پښتو په ادبي مطالعاتو کې ځای ونيو.

د ادبپوهنې د دوو نورو اصلي څانګو ادبي تاريخ او ادبي نقد په باب هم نوې خبرې رامنځته شوې، دغو نويو تمايلونو د ادبپوهنې د دغو دوو اساسي څانګو په باب زموږ د فرهنګيانو په ذهنونو حاکمې

نظریې او انګېرنې له پوښتنوسره مخامخ کړي؛

(٦) د نقد معیارونه او د آثارو د ارزیابۍ روشونه هم نوي شول.

دغه راز د ادبپوهنې فرعي څانګې، لکه: متنپوهنه، کتابپوهنه او مأخذپوهنه کې هم نوې خبرې رامنځته شوې او ځینې څانګې نوې مطرح شوې.

د ادبپوهنې په څانګو کې د دغو نویو تحولاتو منځته راتګ او د نویو نظریو پیدا ایښت زموږ څېړنې یو مخیزې نوې نه کړای شوې. زوړ عنعني ذهنیت اوس هم زموږ په ادبي څېړنو حاکمیت لري. د افغانستان د پښتنو په فرهنګي حلقو کې هم د زړو عنعني روشونو او انګېرنو پلوي کسان شته، خو په پښتونخوا او د بلوچستان په پښتنو کې دا شمېره بیخي زیاته ده. له دې ډلې سره د ادبیاتو په باب ذهنیت پخوانی دی او ادبپوهنه خو د یوې ځانګړې پوهنې په توګه ګرد سره نه پېژني.

اروابناد کاندید اکادمیسین محمد صدیق روهي د هغو ادبپوهانو په ډله کې ولاړ سړی دی چې کابو څلور لسیزې یې د نویو نظریو او پرمختللیو میتودونو په رڼا کې د ادبپوهنې د ځینو څانګو او ادبیاتو په باب خپلې لیکنې او څېړنې تنظیم کړې دي.

دوی د پنځوسمو او شپېتمو کلونو په جریان کې کابو دوې لسیزې په ډېرو کتابونو سریزې لیکلي دي چې په دغه شمېره کې د شعر او داستان څو مجموعې هم شاملې دي. دا سریزې له دودیزو سریزو توپیر لري، بلکې هره سریزه د شعر او ادبي آثارو د ځانګړنو، هنري او ښکلاییزو ارزښتونو په خصوص کې ډېرې لنډې خو جامع یادونې هم لري چې لارښودي ارزښتونه یې سړی لوړ ارزیابي کولای شي.

کله چې ما په ۱۳۷۰ ش کال کې د شعر په باب د اروابناد استاد روهي مقالې را ټولولې او د افغانستان د لیکوالو انجمن ته مې د چاپ لپاره سپارلې، نو دوی خپله ما ته وویل: "ما چې کومې سریزې په وروستیو دیارلس، څوارلس کلونو کې پر شعري مجموعو او داستاني

آثارو لیکلې دي، ستا د اهدافو په پوره کولو کې ښه ترا مرسته کولای شي. څکه ته غواړې چې څوانانو ته د شعر او ادبیاتو په باب لاربښودي مطالب را غونډ کړې او دا سریزې د شعر او په عام ډول ادبیاتو، د شاعر د رسالت، پایښتې او موسمي شعرونو، شعر او شعار او نورو دې ته ورته مسایلو او نکاتو په باب څینې اشارې لري".

دا کار هغه وخت و نه شو او سږ کال مو د اروابناد استاد روهي د دویم تلین په مناسب د دغو سریزو دا مجموعه ترتیب کړه.

د مجموعې د ترتیب او د سریزو د ټولولو چارې څوان شاعر ښاغلي سید افضل شهرزاد تر سره کړې او یوه مقدمه یې هم پرې وکښله، خو د چاپ کار او لګښت د دانش کتابخانې خاوند او ښاغلي فرهنګدوست ګران اسدالله ساپي ومانه او په دې ترتیب یې د اروابناد روهي ارمان یې- چې دا سریزې په یوه مجموعه کې راټولې او افغان څوانانو ته وړاندې شي - په مړینه ورپوره کړ.

زه د ښاغلیو او پر ما ګرانو سید افضل شهرزاد او اسد الله ساپي د زړه له کومي مننه کوم چې دا مجموعه یې ترتیب او چاپ کړه. زما دا هیله ده چې دا مجموعه څوان افغان ادبپوهان، شاعران او ادبي څېړونکي ولولي او خپلې تجربې پرې غني کړي.

په درناوي

سر محقق زلمی هېوادمل

# د مدون څو یادونې

زمونږ د هېواد د معاصرو ادبیاتو پیلامه د امیر حبیب الله خان د سلطنت له دورې او د هغه وخت د اخبار "سراج الاخبار" سره تړاو لري. که د ګران هېواد د معاصرو ادبیاتو تاریخ ته په دقت ځیر شو، له پیل څخه تر دې دمه پورې یې د ودې او پرمختګ، د ځنډونو او خنډونو مختلف پړاوونه طی کړي دي. زه پر معاصرو ادبیاتو څه نه کاږم، غواړم چې د هنري ادبیاتو په باب په ځانګړي ډول د شعر او لنډې کیسې په باب یو څو کرښې وکاږم. له ۱۳۱۴ کال څخه تر شپېتمو کلونو پورې زمونږ د هنري ادبیاتو په ځانګړي ډول د شعر او لنډې کیسې په باب د ګوتو په شمېر چاپي آثار موجود وو. د شعر ویونکي او د لنډې کیسې لیکونکي وو، خو د دوی د آثارو د چاپ زمینه کمه وه. شپېتم کلونه

سره له دې چې زموږ د جګړه ځپلي او وران هېواد نه هېرېدونکې غمیزه ده، خو په همدې کلونو کې ډېرې شعري او داستاني مجموعې د چاپ پر تندي وځلېدې، د همدې کلونوله پیل څخه تر یو ټاکلي وخت یعنې ۱۳۷۱ ل. پورې د هېواد مختلفو فرهنګي موسسو ډول ډول هنري، تحقیقي او تخلیقي آثار چاپ کړل. په هنري آثارو کې ځینو یې واقعاً چې هنري ارزښت درلود او ځینې یې تش په نوم سیاسي شعارونه وو، هر سړي قلم او کاغذ را پورته کړی و، لومړی به یې قافیې کتار کړې بیا به یې نظم لیکه، په همدې وخت کې داسې خلك هم پیدا شول چې له هنري ادبیاتو سره یې ابتدایي اشنایي هم نه لرله، له ځان څخه یې شاعر، کیسه لیکونکی، څېړونکی، کره کتونکی او ژبپوهاند جوړ کړ. په هر څه یې د تسلط او پوهېدو دعوه کوله، چې دغسې جریان بیا هنري ادبیات د هنر له پولې باسي او د ابتذال په لوري لوری ورکوي. د داسې ادبیاتو چاپي نمونې لرو چې د هنر بوی او څرك پکې نه لیدل کېږي. که په خپله اصلي مطلب ته را نه شم او خبره که هر څومره اوږدوم، اوږدېدای شي، را به شم خپل اصلي مطلب ته.

ما ته مې خپل نومیالي استاد ښاغلي هېوادمل صاحب وویل چې د اروابناد استاد روهي ټولې هغه سریزې یې چې پر هنري ادبیاتو یعنې د شعرونو او لنډو کیسو پر مجموعو یې لیکلي دي راټولې او ترتیب کړه چې د کتاب په شکل یې چاپ کړو.

ما دې کار ته ملا وتړله او هېوادمل صاحب راسره مرسته وکړه.

دغه سریزې چې ما راټولې کړې دي، ټولې یوولس سریزې دي چې د ۱۳۵۷ ل. کال راهیسې په هنري ادبیاتو په ځانګړي ډول په شعرونو او لنډه کیسه لیکل شوې دي.

هغه سریزې چې پر شعري مجموعو لیکل شوې دي. پېژندنه یې په لاندې ډول کېږي:

۱- د ژوند انځور : دغه د نثر او شعر ګډ غونډ دی چې د ښاغلې شریفه شریف په زیار راټول شوی، په دې مجموعه کې د هېواد د نامتو لیکوالو او شاعرانو لیکنې او شعرونه راغلي دي.

۲- ننواتې : د زره سواند شینواري د زړه په وینو لیکل شوې مجموعه ده.

۳- د سحر په غېږ کې : د ځوان او نوښتګر شاعر ښاغلي عارف خزان لومړنۍ شعري مجموعه ده.

۴- باولۍ : د علي ګل پیوند د شعرونو مجموعه ده چې د ننګونو کیسې کوي.

۵- پل : د لطیف بهاند د شعرونو مجموعه ده، چې په شعر کې د بیتونو د استقلال روحیه یې را ژوندۍ کړه.

٦- دهیلوګودرونه : د فضل الهي ګران د اوښکو بهاند ګودرونه دي، چې د هېواد د ودانو ګودرونو کیسې کوي.

۷- متهکور : د اسماعیل یون د ت د مرغلرو امېل دی چې رڼا او ښکلا په کې له ورایه ځلېږي.

په پښتو لنډو کیسو کې ریالیستکي افکار او په اوسني پښتو شعر کې د نوښت مسأله د ښاغلي لیکوال نور محمد سهیم پر هنري ادبیاتو لیکل شوي.آثار دي چې د ارواښاد استاد روهي پر مرغلرو پسولل شوي دي.

د ښاغلي اکبر کرګر د لنډو کسیو مجموعه شپېې او د ښاغلي امین افغانپور د څپو وزرو باندې لنډې کیسې هم د ارواښاداستاد روهي د سریزه، لیکلو ویاړ لري.

په پورته یاد شویو آثارو د استاد روهي سریزې تش په نوم سریزې نه دي، هره یوه سریزه یې دهنري ادبیاتو په باب بېلابېل بابونه او فصلونه لري. دغه سریزې د شعر او لیکوال ستاینه نه لري، په دې سریزو کې داسې نوي ټکي او مفکوره لیدل کېږي چې تر اوسه پورې ډېر خلک ترې خبر نه دي. دغه سریزې دهنري ادبیاتو او د دې ادبیاتو په پېژندلو کې لارښودونکې سریزې دي. زما په نظر استاد روهي په معاصرو ادبیاتو کې لومړنی شخص دی چې د سریزې لیکلو زاړه قالبونه او ځنځیرونه یې مات کړل. زموږ په ادبیاتو کې د سریزې لیکلو عنعنه دا وه چې سریزه به د لیکوال او شاعر په ستاینه پیل او پای ته رسېده، خو ارواښاد استاد روهي خپلې سریزې نه یې په ستاینه پیل کړې او نه پای ته رسونې دي. بلکې استاد په سریزه کې داسې ټکي مطرح کړي چې هر یو یې ځانته د بحث وړ دی او اوږده بحثونه پرې کېدای شي. مثلاً استاد روهي د لومړي ځل لپاره په شعر کې د نثر موضوع مطرح کړه. ښایي یو شمېر فکر وکړي چې په شعر کې له نثر څخه مطلب څه دی. استاد په شعر کې له نثر څخه مراد هغه منظوم نثر ګڼي چې شاعرانه ژبه نه لري او تش قالب یې منظوم دی.

د استاد په سریزو کې سړی کولای شي چې د شعر او نظم شاعران او ناظمان، لنډه معیاري کیسه او د پولي او پټي کیسې وپېژني. یو وخت موږ ته هر نظم شعر و او هر ناظم شاعر. یو وخت موږ

ته د هر پېړي او ديو کيسه، کيسه وه، ولې د دې سريزو په لوستو سره سړی کولای شي چې د پورته يادو شويو ټکو فرق وکړي، د استاد روهي دا سريزې چې ما راټولې کړې، لوستل يې دومره ګټور دي چې هر څوک يې ولولي هغه ته د لارښود او د هنري ادبياتو په باب د نوې مفکورې پيدا کېدو حيثيت لري. استاد روهي شعر، شعر ته وايي. شعر سينګار شوی واقعيت ګڼي، شعر ته د تخيل او عاطفې بچی وايي. په دې سريزو کې استاد روهي موږ ته هغه عناصر راپېژني چې د شعر ارزښت ټاکي لکه تخيل، عاطفه، ښکلا، احساس او آهنګ.

زه نور د لوستونکيو او مجموعې تر منځ نه خنډ کېږم او خپلې دغه څو يادونې پای ته رسوم، خو دا به بې انصافي وي چې د ګران فرهنګ دوست ښاغلي اسد الله ساپي مننه ونه کړم.

ښاغلی اسد الله ساپي په ډېره مينه د دې مجموعې د چاپ لګښتونه ومنل او دا دی د همده په همت دا کتاب تاسو ته وړاندې کېږي. پر همت دې يې برکت وي.

له ښاغلي محمد اسمعيل يون او ښاغلي صديق الله بدر نه هم مننه کوم چې د ځينو سريزو په لټون او پيدا کولو کې يې مرسته راسره کړې ده.

په درناوي

سيد افضل شيرزاد

# دا شعرونه...

د شعر په باره کې ډېر ځله دا پوښتنه طرح کېږي چې شعر څه ته وايي؟

دې پوښتنې ته به هر چا د خپل ذوق او پوهې سره سم ځواب ورکړی وي، خو زما ځواب دا دی چې: شعر، شعر ته ویل کېږي.

د منطق شاګردان به سمدلاسه اعتراض وکړي چې تا خو یو مبهم پر بل مبهم حواله کړ. دا خو علمي او منطقي تعریف نه دی.

زما نظر دا دی چې د شعر په باره کې باید شاعرانه خبرې وشي. شاعرانه خبرې له علمي خبرو سره توپیر لري. علمي خبرې د لمر د وړانګو په شان ځلنده او روښانه وي او شاعرانه خبرې د سپوږمۍ د وړانګو په شان ښکلې او تتې وي. له هغو وړانګو څخه ژوند مینځته

راځي او له دغو ورانګو څخه کیفیت او ښکلا زیږیږي.
یو چا د شعر په باره کې داسې ویلي دي:
"کله چې جذبات د ساینس پر مخ رڼا وغورځوي، شعر ترې جوړیږي." نو ویلی شو چې شعر سینګار شوی واقعیت دی، ساړه او وچ واقعیتونه د شعر په قلمرو کې نه ځایيږي.
لېکن - آیا د شعر مانۍ د واقعیتونو پر بنسټ درېدلې ده؟
فکر کوم دې پوښتنې ته د "هو" ځواب ورکول د زمري زړه غواړي. د شعر تاریخ به څه وایي؟
آیا شاعرانو ټول عمر افسانې نه دي ویلې؟
یو شاعر حتی دا هم ویلي دي چې تر ټولو ښه شعر هغه دی چې د واقعیتونو سره یې فاصله زیاته وي. موږ نه پوهیږو چې د شاعر مقصد طنز او کتره ده، که غواړي چې جدي خبرې وکړي، د دې خبرې یو رنګین تعبیر دا دی چې شعر پوهه نه ده، بلکې د پوهې په باره کې احساس دی.
پوهه بېطرفه ده اما احساسات او عواطف بېطرفه نه دي. شاعرانه "واقعیتونه" د وچو او بې روحه واقعیتونو سره توپیر لري. که شاعر واقعیت ته نژدې شي له شعریت څخه لرې کیږي.
اما- د شعر په باره کې دوه ډوله خبرې کېدای شي، یو دا چې شاعرانو څه ویلي دي او بیا د دوی له اشعارو څخه د (شعر) په باره کې یوه تابلو وکاږو، دا یو اکاډمیك کار دی.
بله دا چې شاعر ته (مرامنامه) ورکړو او هغه څه چې له مرامنامې سره نه وي عیار شوي د شعریت له دایرې څخه یې وباسو. لومړۍ خبره تشریحي بڼه لري او دویمه تجویزي او توصیوي.
دا درسته ده چې شاعر باید آزاد وي او دا بالکل کتابي خبره ده چې "یجوز للشاعر ما لا یجوز لغیره" یعني شاعر ته روا دي هغه څه چې نورو ته روا نه دي. لیکن دا هم باید ووایوچې د آزادۍ معنا څه ده؟

آزادي په عمل کې څرګندېږي، آزادي ولاړه نه ده، بلکې همېشه په حرکت کې ده. آزادي د يوه ځای څخه پيل کېږي او بل ځای ته ځي.

آزادي له څه شي څخه؟ له چا نه؟ له کوم ځايه تر کوم ځايه؟

داسې ښکاري چې حتی آزادي هم په ټوله معنا آزاده نه ده. بلکې د نسبيت په ځنځيرونو تړل شوې ده. داسې آزادي چې د "تعلق" رنګ و نه لري، هېڅ وجود نه لري.

له دې امله، د شاعر آزادي محدوده ده، شاعر نه شي کولای چې ټول عمر دعاج په خيالي مانۍ کې ژوند وکړي،داپلاتون "فيلسوف" مجبور دی چې له آسمانونو څخه بېرته ځمکې ته را وګرځي او د خلکو خدمت ته ملا وتړي.

د التزام طرفداران وايي: د هر وخت کېږي چې موږ مړه شوي وو: له "هغه وختنه چې چا ته مو ګټه نه ده رسېدلې".

او په پای کې دا شعرونه...

دا شعرونه چې پېغلې شريفې را غونډ کړي دي د التزامي شاعرانو د رنګينو غوټيو ګېډۍ ده.

زما په نظر د سرو ګلو ګلدسته ښکاري، ځکه چې د دردمنو او بېوزلو په وينو لړلي دي. دا شعرونه، بېطرفه نه دي، ځکه چې د زګيروي او ژړا آوازونه يې غوني زيږوي. دا شعرونه د غم او رنځ سازونه دي. په دې شعرونو کې طبيعت هم بېطرفه او بې تفاوته نه دی: باد زګيروي کوي، آسمان نارې وهي، اوربڅ ژاړي.

دا شعرونه نوي شعرونه دي، د وخت د غوښتنو او د ټولنيزو اړتياوو په حکم ويل شوي دي. شريفې، خورې ورې مرغلرې را ټولې کړې. د ټولنې لويو پرګنو ته يې ښکلی امېل ورنه جوړ کړ، هغو پرګنو ته چې خپله خاوره يې د سر په قربانۍ ساتلې ده. هغو ته چې د ټولنې

د پیاوړتیا ربښتوني ستنې دي. هغو ته چې د نوي نظام په رڼا کې خپل اسکیرلی سرنوشت ته د سر په کاسه کې اوبه ورکوي، هغو ته چې د تاریخ د منطق په حکم د برابری، وروری، سولې او خوشحالی دروازې پرانیستل کېږي.

دا شعرونه د پښتو ادبیاتو د یوې نوې مرحلې ښکارندوی دي.

## د ژوند انځور

# ننواتې

## د خیبر د ادبي بڼ يو بل ګلبوټی

دا دی د خیبر په ادبي بڼ کې يو بل ګلبوټي د شعر رنګين ګلونه وسپړل. داسې ښکاري چې دغه د ښکلا او نازکخيالۍ بڼ به سمسور او تازه پاتې شي، ځکه د هنر کوم نيالګی چې د فطرت د تقاضا په لاس کېښودل شي د زمانې ماليار يې په ډېر شوق پالنه کوي او د ابتذال پسندو له بد نظره يې په امان کې ساتي.

غزل د مینې احساس او د تخیل مظهر دی او د انساني فطرت همزولی پاتې شوی دی. مګر آیا داسې وخت به راشي چې د انسان نه به مینه، عواطف او د ښکلا خوښونې ذوق کډه وکړي؟ ښایي نه او ښایي هو! ځکه موږ د مصنوعي زړونو د دوران په باره کې پوره پیشګویي نه شو کولای.

ویل کېږي چې ژبه له ریتم او آهنګ سره پیل شوې ده. که دا خبره سمه وي نو ریتم او آهنګ د انسان پخواني ملګري دي. لرغونو انسانانو حرکات (نڅا) وزم (آهنګ) له ترانې سره یو ځای کړي وو. لیریك (غنایي) به له ساز سره یو ځای ویل کېدې. لیریك یو لنډ شانته سوبجکتیف نظم دی چې د تخیل، مېلوډي او احساس په درلودلو سره په اورېدونکي کې ځانګړې او واحده انطباع پیدا کوي. لرغونو یونانیانو د لیریك او کوریك شعرونو تر مینځ د تفریق کرښه را ایستلې وه، په دې مانا چې لیریك شعر به د یوه منفرد سندرغاړي احساسات څرګندول او دلایر (د موسیقۍ تاریزي آلې) په واسطه به بدرګه کېدل، په داسې حال کې چې کوریك ډله ییزې سندرې وې او د کورس په ډول به ویل کېدې. غزل د لیریك شعر بچی دی او د خپل ښایست له امله یې د عوامو او خواصو زړونو ته لاره موندلې ده.

د پښتو ژبې په ادبیاتو کې د غزل ویونکو شاعرانو شهرت تر نورو زیات دی، ښایي په دې علت چې په غزل کې شعریت او بداعت خپل جوهر په ښه توګه څرګندوي. د پښتو په ولسي ادبیاتو کې غزل (ډوله نظم) ته مقام وایي. په مقام کې د تخیل او بدیعي صنایعو پایه د غزل په اندازه اوچته نه وي، ځکه چې مقام د ولسي شاعرانو له خوا جوړېږي. ولسي شاعران نالوستي یا کم سواده وي. له بدیعي صنایعو سره نه دي اشنا. که د دوی په ډله کې ځیني عالمان هم وي، هغوی د پرګنو د ادراك او پوهې سطحې ته ګوري.

تر ډېره وخته داسې تصور کېده چې غزل یوازې له کلاسیك

شعر سره پیوستون درلوده، په اوسني وخت کې به د ګل او بلبل، شمعې او پتنګک، بېلتون او وصال خبرې له موده لویدلې او بېخونده ښکاره شي. ځینو شاعرانو او ادیبانو غزل له دروازې نه وایسته خو چې کتل یې د کړکۍ له لارې بېرته راغی، تول پوه شول چې د شعر له کور (بیت) نه د غزل شړل امکان نه لري، دا په دې چې مینه او ښکلا د شعر ابدي مضمون دی. کله، کله پر زړه باندې د غمونو داسې توپان راشي چې د زړه په اقلیم کې د ستاینې پته ورکه شي، خو شاعر ورپسې ګرځي، د خپل زړه د تسل لپاره او له ژوند سره د مینې لپاره یې لټوي. دا به نه وایو چې غزل له عشق او جمال نه پرته بل څه نه پېژني. ښایي غزل یوه بهانه وي، یو سمبول وي، د دردونو آهنګینې لمبې وي. د سکوت ماته د مین ننواتې وي، د وخت له زړه نه راپورته شوې کړیکه وي، د عبرت تاریخچه وي، د سرمشق لمبه وي او د شعر رنګینه تابلو وي.

ځینې غزل ویونکي شاعران لرو چې د شعر له پیکرې نه یې یاقوتي سیوری را ګرځېدلی دی او په دغه سیوري کې د معنا ناوې ناسته ده. غزلې لرو چې د ظاهري نقش نه یې معنوي پرداز ښکلی دی، غزلې لرو چې په هینداره کې یې د روښانه افق پس منظر لیدل کېږي. غزلې لرو چې پر سطح باندې یې چوپیا حکومت کوي او په زړه کې یې د طغیان څپې غورځنګونه وهي، غزلې لرو چې له سرو سترګو یې د غیرت بڅرې الوزي او شیطانان بوډنوي او په پای کې غزلې لرو چې غزلې دي.

زموږ په غزلونو کې یو بل ډول سبک هم شته، دا سبک د باز او شاهین په ملک کې روزل شوی دی، د تخیل په وزرو د آسمان ناپایاوه کنارو ته ځي، خو هر چېرته چې ځي په سترګو کې د مینې او شبګیرو نښې ورسره وړي، دا سبک د خیبر سبک دی. د خیبر د سبک غزل پښتون شوی غزل دی. د دغه سبک موسس حمزه شینواری دی، چې څوک یې د غزل استاد او ځینې یې د غزل پلار بولي. حمزه په همدې مناسبت وایي:

ستا په اننګو کې د حمزه د وينو سره دي
ته شوې د پښتو غزله څوان زه دې بابا کړم

بې جهته نه ده، چې د (ننواتې) په نامه د غزلو دغه مجموعه د غزل پلار ته اهدا شوې ده.

هو! په پښتو کې د ننواتې دود شته، خو که دغه ننواتې د مينې او راز او نياز له جهان سره تعلق ولري، نو څه عيب لري؟ هر شاعر او هر عاشق دا کار کوي خو خيبريان يې په خپل سبک کوي.

ما کوز ورته لېمه کړل زما سر نه ټيټېده
شايد چې په الفت کې هم افغان پاتې کېدم

(حمزه)

زړه سواند هم دخپل عزيز په پله قدم ايښی دی او زيار باسي چې د خپلو عزيزانو عنعنه ژوندۍ وساتي:

پښتون احساس مې هيڅ سکون نه مني
څکه مې پيل کړه بېرته بيا مزلـونـه

(زړه سواند)

هر پښتون چې له بل پښتون سره مخامخ شي، نو لومړۍ خبره يې دا وي: (ستړی مه شې!) او هغه بل ورته وايي: (خوار مه شې!)؛ ښکاره ده چې د دغه قوم په برخه ستړيا او خواري رسېدلې ده؛ د پښتون احساس سکون نه مني او بيا په مزل پيل کوي:

يو وخت به ورسو د ګلو بڼ ته
خير که کوو اوس د بېديا مزلونه

(زړه سواند)

هو! اوس حرکت هدفمن شوی دی او خامخا به بېدیاوي، ستړیاوي او خواري تر شا پاتې کېږي.

د زړه سواند د غزلو پر دغه مجموعه باندې ډېر څه ویل کېدای شي، خو دا باید ووایم چې په دغه مجموعه کې تنوع او رنګیني زیاته ده. د کلاسیك شعر عنعنه او د معاصر شعر رسالت غنایي او حماسي روح، د پښتني سایکالوجي د څرګندولو لپاره شعوري هڅه او داسې نور خصوصیات پکې منعکس شوي دي. د دې ټولو تر څنګ د زړه - سواند شعر ایډیوسنکریټیك (منحصر به فرد) ځانګړتیاوې هم لري. دی کله کله د کلاسیك شاعرانو د رمانتیك عشق لمن پرېږدي او ځانته خپل معیارونه ټاکي، د مثال په توګه، دا غزل ولولئ!

په مخ دې راغلې له حیا نه خولې
ځکه نو ما لمنه ستا پرېښوده
کوڅه دې ټوله لېونو ونیوه
ملامت نه ومه چې ما پرېښوده
نور خو زاهده را ته مه وایه څه
هم مې رندې هم مې مینا پرېښوده

کلاسیك شاعر په هېڅ صورت د یار کوڅه نه خوشي کوي او کله کله خو محتسب ته په ډاګه د خپلې رندۍ او مستۍ اعلان کوي. د ده په قاموس کې له زاهد سره پخلا کېدنه نه شته، توبه ماتول د ده د ورځې دستور دی، دا د رمانتیك عشق سمبولونه دي.

زموږ شاعر د شرم او حیا په باره کې ځانګړي تصورات لري:

اوښکې مې سترګو کې آشنا شرمېږي
مینه مې زړه کې هم له تا شرمېږي
خدای زده چې شمعې څه ویلې ورته؟
پتنګ را نغی، له رڼا شرمېږي.

د زړه سواند د شعر د ځانګړتیاوو په باب (یعنې د هغو ځانګړتیاوو په باب چې له زړه سواند نه یې زړه سواند جوړ کړی دی) څېړنه د ادبي محقق لپاره په زړه پورې موضوع کېدای شي.

په پای کې باید ووایم چې د دغو غزلو تأثیر به پر ټولو نوستونکو یو شان نه وي، ځکه چې ذوقونه او طبایع مختلف دي. څوک حماسي شعر خوښوي، څوک غنایي، ځینې په شعر کې پیغام لټوي، ځینې یې بد یې ښکلا څخه خوند اخلي، نور نو د شعر د مینه والو وخت نه نیسم، پرېږدئ چې د شاعر سایکالوجي د ده د شعر په هنداره کې وکتله شي.

نواتي

# د سحر په غیږ کې

خزان په رمزي ژبه د شعر پر زمینه باندې د خپل چاپېریال رنګینه منظره انځور کړې ده. دلته د خزان په منظره کې د پسرلي د ښکلا نښې سترګکونه وهي. د دغه خزان په سرو پاڼو او طلايي جامه کې د یوه غوړېدلي ګلستان پس منظر ښکاري. د شاعر خزان د نهیلۍ او پسیمیزم له خزان او د کلاسیك شعر له خزان نه جلا شوی دی او د خړو اوربڅو له تتر څخه یې د وړانګین ژوند ځلانده مرغلرې راتویېږي.

د شاعر په دې مجموعه کې تور وختونه، سره وختونه، او د سبا ورځې روښانه وختونه د واقعبینۍ په روحیه کې متبلور شوي دي.

تور که مې "پرون" و "نن" په وینو سور
خیر دې وي روښــانه مستقبل لیکم

د شعر یو پل دی چې پرون له سبا سره نښلوي. غولوونکی شعر د خراب پله په شان ډېر ژر سقوط کوي او د راتلونکو لاره رندوي. دا یو تریخ واقعیت دی چې موږ د خپل تاریخ په حساسو او سرنوشت جوړوونکو شېبو کې له یوه تحمیل شوي حالت سره ډغرې وهو. د "شهیدانو" غونډۍ له ورایه د لاله زار په شان سرې ځېې منعکسوي. ځینو شاعرانو په دې باندې د پسرلي ګومان کړی دی او د "غوړېدلي ګلستان" ترانې غږوي.

اما خزان په دې باره کې داسې وایي:

لکه غوټۍ په وینو سور یمه، سبا خندوم

د ګل په سرو شونډو پرته اوده موسکا خندوم

شاعر سترو امېدونو ته منزل لیکي او د تندي په ماتولو سره د خپل سپېره تقدیر بدلول غواړي. د ده په "غچ" لکه یو لېونی شانته آرمان نغښتی دی، شاعر ماته نه قبلوي. خو د ذهن په اوږده کوڅه کې یې لا هم تورو ګردونو او خړې برېښوکۍ اتڼ اچولی دی او په سوو خاطراتو باندې یې د تور لوګي غمجن سیوری غوړېدلی دی. شاعر خندا یادوي، خو دا د غمونو لېونۍ خندا ده. د ده په غمجنه خندا کې یو پټ راز هم شته خو ښایي چې د یارانې په خاطر یې په ګوګل کې ویده کړی وي.

خزان او د ده هنروال همزولي موږ په دې ډاډه کوي چې هر عصر له خپلو ایجاباتو سره سم نوي شاعران روزي. تر یو څه وخته مو د شعر په نامه شعارونه واورېدل. یو نواخته او کلیشه یي شعرونه د پښتو ادبیاتو په چاپېریال باندې د ابتذال او سطحي ګرایي تروږمۍ خپره کړه. خو اوس د شعر د آسمان په لمن کښې یو څه رنګینه ښې را برسېره شوې دي.

د خزان شعر له ښکلو استعارو، هنري تصویرونو، ژورو عواطفو او لوړو خیالونو څخه بې برخه نه دی. داسې ښکاري چې ځوان نسل د

ادب ډګر ته د نوښت راوستلو امتحان ورکوي. او د خپلو آرمانونو او پیغامونو د خپرولو شاعرانو ژبه لټوي. د پښتو د نوي شعر یوه ښیګڼه دا ده چې د خپلو فرهنګي مواریثو تسلسل ساتي. ایستیتیکي او ډموکراتیك ارزښتونه لاپسې صیقل کوي. د نورو ولسونو له تجربو څخه د ملي ادبیاتو د غني کولو لپاره استفاده کوي او په تش او نا آشنا تقلید سره د نوي او زاړه تر مینځ خلیج نه پیدا کوي.

که څه هم زمونږ د ځوان نسل په شعرونو کې د لایق، اجمل او حمزه په سویه د انتقالولو قوت نه شته، مګر د استعارو په جوړلو او د هنري ایماژونو په تخلیق کې د هغوی کار او زیار د یادونې وړ دی. دوی باید عاطفي او سایکالوجیکي اړخ ته زیاته پاملرنه وکړي، ځکه یوازې تخنیکي اړخونه شعر د عام مقبولیت سرحد ته نه شي رسولای.

عارف خزان د شعرپه رموزو پوهېدلی دی. د ده په دې مجموعه کې د سوژې نوښت او د تخیل قوت له ورایه ځان ښکاره کوي.

د ارغوان او د لاله د غوړېدو په امید
زما یاغي شعرونه چغې وهي.

دا دی د خزان آرمان!

(د سحر په غېږ کې)

# پل ته یوه کتنه

د ګپ شپ په یوه مجلس کې یوه تن وویل: "ما تر اوسه شعر نه دی لوستی." دویم سړي په بېړه وویل: "اوریدلی خو به دې وي که نه؟". لومړي شخص په ځواب کې ورته ووې: "نه مې لوستی دی، نه مې اورېدلی دی."

دویم سړي وخندل له حیانه یې څه و نه ویل، خو په زړه کې یې خامخا دا خبره ګرځېده چې "یار سخت دروغ وویل! دا څنګه امکان لري

چې يو سړی دې په ټولنه کې پاخه عمر ته رسېدلی وي، په ښوونځيو اوپوهنځيو کې دې يې زده کړه هم کړې وي، د پوهنې او علميت ادعا دې هم ولري او له دې ټولو سره سره دې د شعر له لوستلو او اورېدلو څخه انکار وکړي؟!".

د دې لپاره چې دويم سړی د حيرت مقام نه را وباسم لومړی شخص مې مخاطب کړ: "فکر کوم چې ته تر زياتې اندازې حق په جانب يې، رښتيا هم نظمونه زيات دي، خو شعرونه دنشت په شمار دي. له دې نه خو دا معلومېږي چې ته د شعر په جوهر پوهېږې؛ په حقيقت کې ته په يوه ايډيال شعر پسې ګرځې، هغه شعر چې تا ته يې آدرس نه دی در ښکاره. زه په خپله هم ډېر وخت کېږي چې شعر ته تږی يم.

زه يو داسې شعر غواړم چې د زړه تارونه مې په اهتزاز راولي، يوه ناآشنا جهان ته مې بوزي، چرته چې د غميونو لوګي فضا نه وي لړلې. د اوښکو پر ځای د ښکلا فوارې سرې زرغونې جوړوي. جذبات د انساني ايډيال له سمسور بڼ نه راټوکېدلی وي. د شعر مضمون په زړه وړونکي موسيقي واړوي، موزيکال الفاظ يې په ساغر بدل شي، کرکه او بدرنګي د زړه له قاموس نه پريمنځي، او..."

لومړی شخص، په داسې حال کې چې موسکا يې په شونډو رپېدله وويل:

"کله چې ته چپ شوې، زه پوه شوم چې د شاعرۍ د باغ ارم وړمه دربانډې ولګېده، د تصويرونو او رنګينيو په جهان کې الفاظ درنه ورک شول، فکر و خيال دې د عواطفو په څپو کې لاره ورکه کړه، کلمات ستا مرستې ته رانغلل".

دويم سړی چې لا هم د حيرت په سمندر کې ډوب تللی و، کله به يوه او کله بل ته کتل. له ځايه پاڅېد . څادر يې په اوږو واچاوه او په بې حوصله ګۍ سره يې خدای پاماني وکړه.

❀❀❀

له دې پېښې څو ورځې وروسته د (پل) په نامه د شعر یوه مجموعه لاس ته راغله، یو څو شعرونه مې یې چې ولوستل، داسې احساس راته پیدا شو لکه چې زمان خپله وظیفه نه وي هېره کړې او غواړي چې د شعر پیمانه ډکه کړي.

شاعر په دې مجموعه کې د لویو شاعرانو په پل قدم ایښی دی، یعنې د هغو شاعرانو لاره یې تعقیب کړې ده چې له ابتکار سره مینه لري او ابتذال یې نه خوښېږي، حوادثو ته د بې تفاوته نندارچي په نظر نه ګوري، د ړانده تعبد له دایرې نه وزي او د آزادۍ د منزل په لور پرواز کوي. خپل عصیانګر روح ته پناه ګاه لټوي او د هر خله خپل غمونه د مغازلې په غېږ کې هیروي.

ما کوښښ وکړ چې په دې مجموعه کې د "پل" مانا او تفسیر پیدا کړم. په یوه ځای کې مې سترګې په دې بیت ونښتې:

که ژوند شي ختم مینه پاتې ده لا
له ژونده وړاندې زموږ پل تېرېږي

نو داسې ښکاري چې "پل" د حوادثو نخښه ده او دغه نخښه به د تاریخ په مسیر کې زموږ د کړو وړو ترجماني کوي. "پل" د وخت د حرکت پل دی، د شاعر د زړه وینا ده، د چاپېریال هینداره ده، د بې اجله مرګونو تصویر دی، د ورانو نغریو تراژیدي ده، د خزان شوي پسرلي سندره ده، د توبې ماتولو او ځنځیر شرنګولو افسانه ده، د طغیان او عصیان حماسه ده. د اغزنو لارو سره د ییلو پښو تړون دی، له اورني ښایست سره د خیالونو پیوستون دی، بس عشق دی او جنون دی او نور هیڅ.

❀❀❀

په تصوير جوړولو کې لطيف بهاند. د حمزه په پله روان دی. خو استعارې يې نوې دي او ځينې خو يې بيخي نادرې دي. لکه:

د ښېرو صنم، د حيرت خنده، د نګهت پښې، د ښو تربګني، د زولنو پلوشې، او د وړمو پيره.

که موږ غواړو چې د شعر پر دغه مجموعه د کوم ادبي مکتب ټاپه ووهو، نو زما په نظر د بهاند شعرونه د انتقادي رياليزم له چينې څخه رابهېدلي دي. د ده په شعر کې وخت انځور شوی دی، خو کله چې د پيغام وار را رسېږي، شاعر ځان ناګاره اچوي:

ورکې د ژوند نښې دلته کنډوالو کې
لارې رندې شوې څوک منزل نه پېژني

اما دا شاعر نه دی چې ځان ناګاره اچوي، بلکې د ژوند کړې لارې دي، چې کله (اوتوپيا) ته نژدې کېږي او بيا ترې ليرې کېږي. دا زموږ عادت ګرځېدلی دی چې شعرونه د فکري ايډيالونو له مخې ارزيابي کړو، د شاعر پيغام د شعر محراق وګڼو او د يوې علمي، تحقيقي مسألي په شان د شعر نتيجه وګورو، زما په فکر شعر تر هر څه دمخه د زړه وينا ده او له عواطفو او جذباتو سره اړه لري.

شعر که ښکلی وي، يا هيجان پاروونکی، په هر صورت احساسات او عواطوف انتقالوي، (موري) وايي: "ستر شاعر د ژوند په باره کې د نتايجو د لاس ته راوړلو لپاره هڅه نه کوي، بلکې په هغه کې يو کيفيت تشخصيوي. د ده عواطف، چې په يوه بل کې يې تداخل کړی دی، ورو ورو په ده کې يو عادت رامنځته کوي، ځينې شيان او پېښې پرده باندې له نورو زياته اغېزه کوي... زما په پوهه دا د شاعر د تجربي اسلوب عاطفي بنسټ دی." نو پر شعر باندې د قضاوت اصلي ملاك له عواطفو او استيتيکي ارزښتونو سره د هغه د تړون اندازه ده، هر شعر چې په رښتيا شعر وي. يوازې په پراخ مفهوم سره هيومانيستي بڼه لري. د ورځې شعرونه د ورځې له تېرېدو سره افول کوي.

په "پل" کې ځینې داسې شعرونه هم شته چې نېغ په نېغه مطلب ته وردانګي، د هنري سینګار لپاره وخت نه لري او هنري ژبې ته اپیل نه کوي، په دې وخت کې شاعر له شعر نه د پیغام رسولو د وسلې په توګه کار اخلي، او له شعر نه شعار جوړوي، اما په عمومي صورت د بهاند شعرونه هنري دي او د شعریت جوهر پکې له ورایه ځلېږي. په دې مجموعه کې ځینې داسې غزل هم شته چې د پښتو ادب شمله جګوي، لکه د (۳۴ مخ) دغه سورګل یې په شغلو کې ایښی غزل یا لکه دا لاندې شعر:

لکـه نشـه چې په پیالـو کې اوسـي
داسې دې خیال مې په لېمو کې اوسي
د جـګ نظـر ګیلې یې ولې کوي
پښتانه تل په جګو غرو کې اوسي

په پښتو غزل کې هر بیت مستقل دی او داسې ښکاري، لکه دا چې د پښتو انفرادیت خوښونې سمبول وي، د "پل" په مجموعه کې د بیتونو د استقلال تر څنګه، په هره توته کې تر زیاتې اندازې یووالی، انسجام او تسلسل هم لیدل کېږي. (تر زیاتې اندازې) مې ځکه وویل چې په ځینو توتو کې عشقي، حماسي او سیاسي موضوعات داسې سره ګډ شوي دي، لکه د ختم او خیرات په غونډه کې چې نامتجانس خلك په یوه دسترخوان سره کښېني او په مشکل سره کولی شي چې مشترکه موضوع پیدا کړي. د دې لاندې مطلع لرونکي غزل یې یو مثال دی:

څنګه چې په ما یې نظر پرېوتو
هلته مې له سترګو بصر(۱) پرېوتو

---

۱- "له سترګو بصر پرېوتل" اصطلاح ما نه ده اورېدلې بنایي چې عامیانه اصطلاح به وي؟

د (مات تندي) تر سرليك لاندې بيتونه هم انسجام نه لري، حتی تناقض په کې ليدل کېږي، زه نه غواړم، د مثال په راوړلو سره بحث اوږد کړم. زما مقصد دا دی چې لطيف بهاند کله کله د کلاسيك سبکونو تر اغېزې لاندې راځي، د شعر په ټوټه کې کليت او انسجام هېروي. د دې خبرې ضمني مانا دا ده چې د بهاند په مجموعه کې د ډېرو ښو شعرونو تر څنگه ښه شعرونه هم شته، په پای کې وايم چې د "پل" په خپرېدو سره به پښتو ادب لا هم غني او رنگين شي.

## (پل)

يادونه. په ليکدود کې د (ما ته وي، سمه وي) پر ځای (ماتوي، سموي) غوره گنم.

# د هیلو ګودرونو ته یوه کتنه

ګرانه د حسن ستوري خپڅي د غزل پر کلي
شبکورو هیلو ته په مخ کې څراغونه نیسي

کله چې موږ د شعر نوم واورو، نو غالباً زموږ په ذهنونو کې دغزل ژانر تداعي کېږي. دا ځکه چې د شعریت جوهر او د بداعت اثر تر نورو زیات په غزل کې انګازې کوي. په پښتو ادبیاتو کې د سترو کلاسیکو شاعرانو او د اوسني دوران د اکثرو نامتو شاعرانو، نومونه د غزل په وزرو د شهرت فضا ته الوتلي دي.

په افغانستان کې د روښانتیا پړاو نه پیلېدو سره داسې ذهنیت راغی چې ګویا غزل یوازې د بلبل ژبه ده. د سوز او ساز نه ډکه

میلوډي ده. د مینې او ښکلا رنګینه نړۍ ده. خو د فکرونو او پیغامونو د انتقال لپاره مناسب میډیم نه ګڼل کېږي. برسېره پر دې. غزل په خپل اغراق سره له ریالېزم او ملموسو واقعیتونو څخه فاصله نیولې وه. له همدې لامله، تر ډېره وخته پورې د پښتو ادبیاتو په بڼ کې د غزل ګل مړاوی پاتې شو او د ګل او بلبل، هجران او وصال. شمعې او پتنګ او د رومانتیک عشق او لیریک عواطفو په باب څه ویل د رجعت پسندۍ او یا له مبرمو مسایلو څخه د تېښتې په مانا تفسیرېدل. شعر د فکرونو او پیغامونو عراده شوه او فورم د تعهد په خدمت کې وګومارل شو. تولنیزو بحرانونو، ورو. ورو د قلم څوکه داسې تېره کړه چې د برچې له څوکې سره یې شباهت پیدا کړ. د ادبیاتو په بڼ کې سره شعرونه وغوړېدل. لیریک شعر د حماسې په تالنده او برېښنا کې خپل آدرس له لاسه ورکړ.

شاعرانو چې شاوخوا وکتل نو د غزل پته یې ورکه کړې وه. آیا دا نه شي کېدای چې غزل ته د تعمید غسل ورکړ شي او په نوي لباس کې د خپل پخواني حسن پلوشې خپرې کړي؟ هو. ولې نه.

دا د څو تنو شاعرانو تړون نه و چې غزل پسې یې اقتدا وکړه. دا د ټولنیزې سایکالوجۍ تقاضا او د زمان غوښتنه وه. غزل هم د خپل کفایت ازموینه په بریالي سره تر سره کړه.

پښتو غزل د رمانتیک عشق له انحصار څخه خلاص شو. مترقي هیومانېزم، د هېوادپالنې روحیه او سپېڅلي آرمانونه یې په خپله غېږه کې ونیول. هو دا هر څه یې په مهذبو الفاظو. هنري ژبه او لطیف تخیل کې څرګند کړل؛ مفکورې یې په رمزونو او اشارو کې ونغښتې؛ احساس یې د ساقي په جام کې نقل کړ؛ تجربې یې په تابلو کې انځور کړې. تصویرونو ته یې د ایډیالونو پس منظر ورکړ او پرېشانه ایماژونه یې په یوه ګېډۍ کې سره تنظیم کړل.

خو دا باید ووایو چې ناظمان ډېر دي او شاعران لږ. مګر دلته

لږ نه ډېرو نه زيات دي. يوه يوه ويلي وو چې: "لږ ښه ... خو چې ښه وي." زموږ د دې مجموعې شاعر په لږو کې راځي خو ... لږکيو د غوښتنې استازى نه دى. دا هغه شاعر دى چې شکورو هيلو ته په مخ کې څراغونه نيسي، ژوبل اميدونه په نغمو تکوروي، د شپېو چغې دقلم په ژبه غورځوي، له سترګو نه د کړيکو خوبونه تښتوي. د يار حرم ته د جنون په ميخانو تېرېږي، د کنډوالو په پرهرېدلو سره د سبا کلي ته ورځي، د رڼا په اننګو کې د لمر ګرېوان ته ور لوزي.

په رښتيا چې د پښتو د غزل کلى د شعريت په ياقوتي پلوشو سره وړانګين شو او د هسك د حسن ستوري په حسرت سره ورته ګوري.

د پښتو غزل نه يوازې د رنګينيو تابلو ده، بلکې د دغې تابلو په پس منظر کې د ګلورينو خيالونو تال هم ځانګي.

رقيبـه مـا تـه د اغزو فرشونه مه غوړوه
وينه مې ګرمه ده خوښېږي الماسونه نيسي

په دې شعرونو کې د ځوانى ګرمه وينه غورځنګونه وهي او د جنګ رب النوع ته چلنج ورکوي.

د جنګ شيطان د وينو تږى دى او وينه غواړي
دا خـونړى بـلا غـورځېږي او ګلان ريژوي
د زمانې په لېچو پريوتـې شهيدې شيبې
قـاتل د هيلو در جنګېږي او ګـلان رېـژوي
د ... باده پـاځه ما ته کړه د خزان لاسـونه
چې ژړې ګوتې يې خوځېږي او ګلان ريژوي

د فضل الهي ګران په شعرونو کې نثر نه شته، تول شعر دى. "د نثر څخه مراد هغه منظوم نثر دى چې شاعرانه ژبه نه لري او تش قالب دى".

د پښتو د ادب په خزانه کې د استعارو د غميو کمى احساس کېده. ګران په دغه مجموعه کې نه ادبي استعارو څخه امېلونه جوړ

کړل او پښتو شعر يې لا نور هم وځلاوه. دا بيتونه په خپله د ده په حق کې صدق کوي:

د شپې په زړه ايښي د رڼو ستورو داغونه
شغلې يې د ګلرخو په دامان ځپې وهي
سپرغۍ د غيرتونو دې له سترګو را وريږي
د عصر د وجدان په سره ګريوان ځپې وهي

د ګران په شعر کې د بازانو او شاهينانو د ملك لوړ پښتني پروازونه هم ليدل کيږي او دخيبر له ننداري نه ليرې نه دی پاتې شوی:

خيبره نيغه دې شمله کړه، د شمشاد په ګوتو
چې شرنګ د تورو دې په مستو زمانو پريوته

د ګران شعر به يقيناً دی په خلکو ګران کړي. که څه هم د ده شعر ګران نه دی، اسان دی. د شعر د دې مجموعې په باره کې ډيرې خبرې ويل کيدای شي. خو دا بايد ووايم چې د ګران غزلې د حماسې په خم کې رنګ شوې دي او ولې به نه وي؟ ځکه هغه يو حماسي متعهد ځوان دی. د وخت غوښتنو ته وفادار او د خلکو د واقعي آرمانونو استازی دی.

هغه نه شي کولای چې په شهيدو شپو کې د بې تفاوتۍ پر ليچو د ناز خوبونو وکړي. د ده شعر سور مشال دی چې له نورو سرو مشالونو سره په يو ځای کيدو د شپې پر زړه داغونه ږدي.

په دغو شعرونو کې د مضمون او شکل تر منځ تناسب مراعات شوی دی، کيدای شي چې په راتلونکې کې د صورې ښکلا تر څنګ سايکالوجيکي اغيزې ته زياته پاملرنه وقف کړي.

زه فکر کوم چې د ګران شعر به د مينه والو دماغ معطر کړي او زما ستاينه به يو اضافي کار وي. "مشك آن بود که خود بويد نه اين که عطار ګويد".

(د هيلو ګودرونه)

# باولۍ یا د وخت رمز

باولۍ د خپل وخت زېړنده ده. نه پوهېږم چې تاریخ به د باولۍ په برخلیك څه لیکلي وي! کله کله په چاپېریال کې داسې انګازې خپرې شي چې د ښکاریانو نسل په ختمېدو دی. نور نو باولۍ آزاده ده. باولۍ به په خپله خوښه د آزادۍ په فضا کې والوزي، خپلې نغمې به ووایي. د یوه لوی جهان سره به آشنا شي او په هر ځای کې چې وغواړي خپله ځاله به جوړه کړي.

آیا دا نو کومه نوې خبره ده؟ دا یوه پخوانۍ اسطوره او یو لرغونی ایډیال دی وختونه بدلېږي ایډیالونه بدلېږي، خو د زیاتې بدبینۍ لپاره کومه سند نشته.

یوازې خدای ښه پوهېږي چې دغه د منزل په لوري تلونکی شاعر ولې هره شېبه تر شا ګوري او د افق له غاړو نه ها خوا کلي او ښارونه چې د افسانو او اسطورو په لوړو کې پټو لړو کې پټ شوی دی، د خپل تخیل ډېرې ته رابولي او له هغو سره په مشغولا کې له ترخو واقعیتونو نه انتقام اخلي. د (میوز) لونه په خپلو خوږو سندرو او هنري تماشو سره زیار باسي چې د شاعر پام بلې خوا ته وګرځوي. لیکن شاعر نه شي کولای چې خپل ځان هېر کړي یعنې دی چې هر چېرې ځي مجبور دی خپل روح له ځان سره بوزي. یو سیوری په ده پسې روان دی. هغه له سیورې نه کرکه لري. مګر هغه یو واقعیت دی.

رښتیا هر څوك چې غواړي رڼا ته ور ووزي او په لمر کې وګرځي سیوری به ور سره ملګری وي. څو میاشتې کېږي چې یې د نوي تفکر ورېږ باولۍ ته د الوتلو بلنه ورکړې ده. د مرغیو سیلونه په فضا کې هرې خوا ته ګرځي. باولۍ د یوې شېبې لپاره خپله خاطره ذهن ته رابولي:

یاد دې دي چې زموږ ځاله
آ سپېرو ځپو په سر کړه
لکه خونه بې مړونه

په دې ترتیب ګورو چې (باولۍ) د یو غم لړلي داستان سمبولیك نوم دی. دا داستان زما په عقیده د یوه باتور او سر لوړي ملت د ژوند ترخه افسانه ده، چې چا ورته د ودانولو او ځان سمبالولو موقع هم نه ده ورکړې او تل یې زیار ایستلی چې د باولۍ په موقعیت کې یې ووینې. ښه شوه چې په دې خاوره شاعران پیدا شول. هره تراژیدي چې

د شاعر نه خولې واورېدل شي په حماسه بدلېږي.

د افسوس خبره ده چې زموږ د ننګونو او غیرتونو کیسې د پردیو په قلم ولیکل شوې. هغوی نه زموږ مېړانه وستایله نه یې زموږ د ژوند رېښتونی تصویر وکېښ او نه یې نوړو انساني ایډیالونو ته زموږ وفاداري بیان کړه، هو. دا د هغه ملت سرنوشت دی چې توره لري قلم نه لري.

ښه شوه چې په دې خاوره شاعران پیدا شول، خو کله چې زه (شاعر) وایم مقصد مې شاعر دی. نه هر هغه څوك چې په قلم د قافیو کتار جوړولی شي او مقفي یا موزون نثر وایي.

په دې وروستیو څو کلونو کې یو شمېر شاعرانو د نوې کتنې او بیا ازموینې خوا ته تمایل پیدا کړی دی. (سوکرات) فیلسوف لا ډېر پخوا ویلي وو چې "ناازمویل شوی ژوند په کولو نه ارزېږي" یعنې کلیشه یي، تقلیدي او تعبدي ژوند له انسان سره نه ښایي. که سړی له مغزو نه کار وانخلي آیا دا د خدای په وړاندې ناشکري او د نعمت کفران نه دی؟

هو! اوس زموږ اکثر شاعران د شعار ورکولو پړاو نه را تېر شوي دي، څینې خو. لکه د علي ګل پیوند په شان د شعر له جوهر سره اشنا شوي دي او د مغزو په خزینه کې یې خر مهرو ته ځای نه دی پرېیښی. اما همدا ویل کفایت نه کوي زه باید پر تاسو زېری وکړم چې زموږ شاعران نه یوازې له کلیشه یي یکنواخته. منحوصې دایرې څخه راوتلي دي. بلکې د نوښت او ابتکار په لاره یې هم ګامونه ایښي دي. موږ د شعر د نورو مجموعو تر څنګه د پیوند (سیلۍ) او (باولۍ) په خاصه توګه د یادونې وړ بولو. په دغو دوو ادبي آثارو کې نوی احساس نوې ښکلا او نوی کیفیت لیدل کېږي. باولۍ په خپلو اسطورو سره د انسان د سرشت او سرنوشت پوښتنه مطرح کوي او لرغوني برباد شوي وخنونه له اوسني عصر سره پیوندوي.

که د خدای دا پېښه یاده وه یارانو
"بیا به ډوبه نه کړي ځمکه په توپان"

لیکن د توپان کیسه پای ته نه ده رسېدلې. یوازې توپان خپله څېره بدله کړې ده. آیا انسان له طبیعت نه زیات مستبد نه دی؟ طبیعت انسان ته هماغومره زیان نه دی رسولی، لکه انسان چې ځان ته رسوني دی. سره له دې موږ (د نوح بېړی) له یاده نه باسو. (د نوح بېړی) د سلیم عقل سمبول دی.

زېری زېری توپان تم شو
وړاندې پورې و چې ښکاري
څپې ماتې
ډوب ماتم شو

(۱۹۸۹) کال د سلیم عقل د بریالیتوب یوه تته رڼا خپروي.

اوس د هر چا په خوله دا ناره جاري ده:

د کښینه! پاڅه! ژوند مې نه خوښېږي
زړه مې تنګېږي زورورو سره

بد بین شاعر وایي چې:

زورورو به زورور وي. هسې نه چې ټول به برابر وي.

یا دا چې:

سره برابر دي خو ځینې له نورو زیات سره برابر دي.

خوشبین وایي: د پرون زورور نن له زورور نه ډېر کمزوری دی ځکه چې د قانون تابع دی.

په هر صورت د تاریخ کوږ و وږ حرکت هر چا ته یو حجت په لاس ورکوي. زموږ یو شاعر په دې باره کې داسې وایي:

زه خو سم یم خو د ژوند لارې کږې دي.

پیوند نه هر څه نه زیات د احساس شاعر دی. د دردونو شاعر دی. د خپل وخت انځورګر دی او د خپل ټاکلي موقعیت ترجماني

کوي. ده واقعیتونه په سمبولونو کې نغښتي دي. د ده روایتونه او اسطورې، رمزونه افاده کوي. مونږ د ده شعر د ده له ژوند پېښو څخه جلا نه شو څېړلی. د هغه د شنه ذهن تپونه او د بې وسۍ اسویلي په هنري پیرایه کې ځان څرګندوي. د پیوند شعر که څه هم د محلي لهجې په اثر او د لرغونو تاریخي اسطورو څخه د استفادې له کبله تر یوې اندازې پېچلی دی او لوستونکي باید ځای په ځای توقف وکړي، خو ټولنه دغه ډول شعر ته هم اړتیا لري.

لازمه نه ده چې زموږ ټول شعرونه دې سهل ممتنع وي، اسان دې وي، روان دې وي او ارزان دې وي. د پیوند د شعرونو ستر کمال دا دی چې د لوستونکي ویده تخیل راوېښوي. د یوه رومانتیک خیال په وزرو یې لوړې فضا ته بیایي، له هغه ځایه یې د ځمکې د مخ ننداې ته رابولي او د تاریخ افسانې لکه د سینما په پرده کې یوه یوه د ده له نظره تېروي. هغه له پېښو سره له ښکلاوو سره او له آرمانونو سره مینه لري. پیوند د نوي سبک خاوند دی او پښتو ادب یې په خپلو نوښتګروهنري آثارو سره غني کړی دی.

د ده د زیاتو بریالیتوبونو په هیله.

(باولی)

# متکور

# د هنري تابلوګانو مجموعه

په وروستیو څلورو کلونو کې -- چې کېدای شي د فرهنګي آزادۍ پیلامه یې وبولو -- زموږ د هنري فرهنګ په تېره د شعر په ګلبڼ کې رنګا رنګ ګلان وغوړېدل او د ادب او هنر د مینه والو زړونه یې باغ باغ کړل. ربښتیا خبره دا ده کله چې د هنر د آزادۍ وږمه په غرو، رغو، کلو او باندو وچلېږي د شعر بلبل یې د هرکلي لپاره ګلورینې ترانې وایي. د تعجب خبره نه ده حتی هغه شاعران چې د کوم طلسم تر

اغېزې لاندې له ځانه پردي شوي وو. د مسخ شوي حالت نه بېرته راګرځېدل، داسې ښکارېده چې هغوی خپله حافظه تر لاسه کړه، خپل کلي مالت او دوستان او دښمنان يې وپېژندل. زه په دې خبره بحث نه کوم چې د شعر ګلبوټي په هوسا او بسيا خاوره کې ښه وده کوي او که بحراني حالات د شاعر احساس راويښوي او طغيان ته يې لمسوي، خو د دې خبرې يادونـه ضروري ګڼم چې شعر او د تخليق آزادي د مجنون او ليلا په شان يو له بله جدايي نه شي زغملای، چېرې چې د تخليق آزادي نه وه، خدای خبر چې څومره خبرې به د شاعرانو په مغزو کې په ابدي خوب ويدې شوې وي، څومره د شعر چينې به وچې شوې وي، څومره استعداونه به متهکور پاتې شوي وي او څومره خبرې به په نه زړه ويـل شـوې وي حتی هغه کسان چې له شاعر نه د پلان سر سم شعرونه غواړي، د تخليق له آزادۍ سره مخالفت نه کوي، خوهغوی د تخليق آزادي داسې تعبيروي: مونږ شاعر ته آزادي ورکوو چې زمونږ دښمنانو ته ښکنځلې وکړي. دا دی د تخليق د آزادۍ اصلي او ژور مفهوم.

زه پوهېږم چې ځينې کسان به ددغو يادونو په لوستلو سره بې حوصلې شوي وي او و به وايي چې دا خو زړې بابولالې دي د هغو تـکرارول څه ګټه لري؟ ښه، دا نصيحت به ومنو خو دا هم بايد ووايو چې په تاريخ کې سپين فصل نه شته. زما ښه په ياد دي چې د داؤد-خان په جمهوريت کې د تاريخ په درسي مفرداتو کې د ظاهر شاه دوره حذف شوې وه او له موجوديت نه يې پکې انکار شوی و، خو ما ورته وويل چې په تاريخ کې سپين فصل يوازې په اسطوره يې دوره پورې اړه لري او بيا هغه خاليګاه ډکه شوه.

مونږ غواړو چې پر دغه ټکي زور واچوو چې فرهنګ يوازې د ډموکراسۍ په فضا کې وده کولای شي. که څوك غواړي چې په دې خاوره کې فرهنګ وغوړېږي نو بايد د نوښت آزادۍ ته درناوی وکړي. په تېرو څلورو کلونو کې سره له دې چې جګړې زمونږ خاوره د خپلو

بچیانو په وینو ولمبوله، ودانۍ یې په کنډوالو بدلې کړې، د کونډو، بورو او یتیمانو اسویلو یې د فلك مانۍ توره کړه. باغونه، ځنګلونه یې پوپناه کړل او مادي هستي یې تالا کړه، خو له دې ټولو سره سره د فرهنګ په برخه کې د یوې نسبي آزادۍ له برکته یو څه تنوع او ښکلا لیدله کېږي.

د دولس کلنې جګړې په وړاندې د شاعرانو انطباعات او تأثیرات یو شانته نه دي: څوك د اتلانو حماسې انځوروي، څوك د شهیدانو پر مقبرو اوښکې تویوي، څوك د سولې آرمانونه بیانوي، څوك وران کلي او زړې خاطرې را په یادوي، څوك د نهیلۍ او بېوسۍ نغمې غږوي، څوك سباوون ته په تمه ناست دي او ځینې په تورتم کې د امید مشالونه ګوري.

د "متهکور" په نامه د شعرونو دغه مجموعه چې د ځوان او حساس شاعر، اسمعیل یون د اندېښنو امېل دی، د پښتني غاړې لپاره په ډېر ظرافت جوړ شوی دی. دا مجموعه د پښتو په فرهنګي ګالرۍ کې یوه ښکلې تابلو ده چې له خپل اولس سره د اورنۍ مینې په زمینه کې انځور شوې. دا مجموعه د صداقت او وجدان غږ دی چې د یوه فرهنګیالي ځوان د احساساتو ترجماني کوي او څه چې وایي شاعرانه، مګر رښتیا دي.

که څوك د دې مجموعې په لفظي اړخونو څېړنې کوي، نو ښایي چې په لوی لاس به خپل ځان له هغه هنري انداز څخه بې برخې کړي چې د شعر په کلیت، انسجام، تصویر او رسالت کې پروت دی.

د ځوان شاعر اسمعیل د شعر هره ټوټه یوه هنري تابلو ده، چې په هغه کې د ښکلا، تناسب او د خیال ظرافت ځان ښکاره کوي. سمعیل یون د خپل وخت تصویر ایستلی دی او په دغه تصویر کې یې خپل موقعیت هم ښودلی دی.

هو. هغه متهکور شوی پاتې دی او ولې به متهکور نه پاتې

کېږي. هغه شاعر دی، زموږ د وخت شاعر چې نه یې "لېوني" خوښېږي او نه له "هوښیارانو" سره په یوه لاره تللای شي. د ده برخلیك دا دی چې متهکور پاتې شي او زموږ اکثر شاعران همداسې دي. زموږ د وخت شاعر له معنوي ویاړ نه پرته بل هېڅ نه لري او نه یې لرلی شي: "دواړه نه کېږي رحمانه یا به دین کړې یا دنیا." خو څوك چې معنوي ویاړ لري هغه په واقعیت کې هر څه لري.

خرقه پوشو په خرقه کې دي موندلی
هغه حظ چې په دنیا کې دنیادار کا

د اسمعیل یون شعرونه تر زیاتې اندازې له خپل کلتور سره تړلي دي او د خاصو حالاتو نه یې رنګ اخیستی دی، دا تصادفي خبره نه ده چې د شاعر په تصویرونو کې د اور لمبې، د وینو څپې، د اوښکو سیند، قطار قطار جنازې، اغزنه خوني لار، د تیزابو باران، اورنی آسمان او بالاخره سوی اسمعیل تر سترګو کېږي. شاعر هغه څه ته اریان پاتې چې نور خلك هم ورته اریان دي: د وینو سوداګري د معنویت سقوط، د عقیدې او اعتماد بحران، د شخصي ګټې په مقابل کې له ټولو اخلاقي نورمونو نه تېرېدل او داسې نور.

زه نه غواړم چې د دغې مجموعې په باره کې د خپل برداشت ټول اړخونه بیان کړم او یا د ده د اشعارو مضمون تفسیر کړم. پرېږدئ چې لوستونکي د ده شعر ته له خپلو عینکو څخه وګوري، په دې مجموعه کې رمزي شعرونه هم شته خو څوك چې له موږ سره اوسېږي هغوی په اسانۍ سره په دغو رمزونو پوهېدای شي.

اسمعیل ځوان دی او ځوانان خپل احساسات نبغ په نېغه بیانوي، زه فکر کوم چې زمان به دغه د استعداد خاوند شاعر ته لا زیاتې هنري هستونې ور په برخه کړي.

(متهکور)

# په اوسني پښتو شعر کې د نوښت مسأله

دوه کاله مخکې، د درسي لکچرنوټ د تهیه کولو لپاره د ادبي اصطلاحاتو په تعریف پسې ګرځېدم، د شعر د تعریف لپاره مې ډېر کتابونه ولټول، کوم تعریفونه چې زما په ذوق برابر وو، هغه مې د یادښت په کتابچه کې لیکل، د شعر د تعریفونو په لړ کې یو چا "مطلق شعر" هم تعریف کړی و. له ځانه سره مې وویل چې "مطلق شعر" هېڅ مانا نه لري، ځکه هر شعر د زمان او مکان له شرایطو سره اړه لري. د خپل وخت د پېښو او فرهنګي جریانونو انعکاس پکې لیدل کېږي او له دې امله هر شعر نسبي او په کلتور پورې تړلی دی. څه موده وروسته

متوجه شوم چې د نسبي په مقابل کې د مطلق لفظ درېدلی دی، آیا د شعر په قلمرو کې د مطلق لپاره هېڅ جواز نشته؟

آیا داسې شعر نه شو موندلی چې په هر وخت او هر ځای کې خلکو ته منلی وي، زړښت و نه لري او هنري ارزښت یې تلپاتې وي؟

هو! ولې نه! د ادبي اصطلاحاتو په قاموس کې هغو آثارو ته چې په هر وخت او هر ځای کې لوستونکي لري او خلك یې په مینه او په خوند لولي، کلاسیك آثار ویل کېږي، نو "مطلق شعر" په اصل کې کلاسیك شعر دی خو د اکثرو خلکو په ذهن کې کلاسیك شعر د معاصر شعر په مقابل کې تداعي کېږي او داسې تصور کوي چې معاصر شعر ته کلاسیك شعر نه شو ویلی. ځینې ادیپوهان د معاصر کلاسیك شعر اصطلاح هم استعمالوي په دې معنا چې د اوسني وخت وتلي او منلي شعرونه معاصر کلاسیك اشعار ګڼل کېدای شي. ځینې نور دا خبره د تأمل وړ ګڼي او داسې استدلال کوي چې ښایي معاصر شعر د ورځې شعر وي.

د خپل وخت له شرایطو سره متناسب وي، زیات مینه وال هم ولري، خو له دې ټولو سره، فصلي او موسمي شعر وي. دا ډول شعرونه چې د ورځنیو اقتضاآتو په زمینه کې د کدو د بوټي په شان را لويېږي او د چنار سر ته خېژي له هغو شرایطو سره چې د چنار په شان په خپل مکان مستقیم دی، جوت توپیر لري. "کدو یې شعرونه" د "چناري شعرونو" په خلاف، ژوره ریښه او زیات عمر نه لري.

نو دا ډول شعرونه چې د زمانې په یوه ټاکلې مقطع کې را ټوکېږي او د موسم په بدلېدو سره بېرته مړاوي کېږي ښکلي شعرونه نه دي.

مطلق او تلپاتې شعر تر هر څه دمخه هنري او استیتکي ارزښت لري. دا یې ذاتي معیار دی، د دې احتمال هم شته چې د شعر سوژه هم ښایي د یو زیات شمېر لیکوالو او شاعرانو په آثارو کې روزل شوې

وي، اما په خپله سوژه د یوه هنري اثر ارزښت او بدعت نه شي ټاکلی. له همدې لامله مطلق شعر مستقل دی، پر خپل هنریت تکیه کوي، په خپله غایت دی. یوازې د هنر په میزان تلل کېږي.

یو زیات شمېر ادبي کره کتونکي د دې خبرې له اورېدو څخه چې "شعر په خپله غایه ده" سخته نارضایتي څرګندوي. په اخلاقي لحاظ د دوی نارضایتي د توجیه وړ ده، ځکه په یوه عنعنوي او بېرته پاتې ټولنه کې چې جګړه، بېسوادي او له هغو څخه را زېږېدلې خپسکې د خلکو پر ستوني فشار راوړي، شاعر او لیکوال څنګه کولای شي د عاج په خیالي مانۍ کې خپل ځان له اضطراب او تشویش څخه خلاص کړي؟

شاعر تر هر چا زیات نرم او حساس زړه لري، له عواطفو څخه نیرې کېدل د شاعر لپاره د مرینې حکم لري. شعر د تخیل او عاطفې بچی دی، له دغو دواړو څخه چې یو کم شي شعر یتیم پاتې کېږي.

دا خبرې سمې او په ځای دي، خو د دې خبرې مانا دا نه ده چې شاعر دې فصلي او موسمي شعرونه وایي او څوک چې ده ته د بارومتر "فشار سنج" لقب ورکوي، نو دی دې هم له فشار سره ښکته پورته کېږي، له ځانه دې څه نه لري او د نورو وجیزې دې تفسیروي؛ نن دې د یوه او سبا دې د بل مدح وایي او د حق (الحق لمن غلب) تر چتر لاندې دې وختونه وژني.

تر ټولو بده یې دا چې ادبي کره کتونکي د لارښوونې په بهانه شاعر ابتذال او سطحي توب ته راکشوي. د ورځې شعارونه ورته دکته کوي او نه یې پرېږدي چې په خپله خوښه د خپل وجدان غږ پورته کړي.

هیڅ ډول لارښوونې ته ضرورت نه شته شاعر په هر صورت متعهد او هیومانیست دی. حتی هغه وخت چې د ګل او بلبل ستاینه کوي او د ښکلا او مینې نغمې غږوي، آیا مینه او ښکلا د ژوند چاشني نه ده؟ دا څوک، دي چې شاعر د ګل او بلبل او رخسار او کاکل

له خبرو منع کوي؟ له بده مرغــه، کره کتونکی. نو آیا کره کتونکي زړه نه لري، یوازې د ګېډې غم ور سره دی؟ آیا دی له "ګل کرم" نه پرته بل ګل په رسمیت نه پېژني؟

کله کله پرشاعر باندې داسې حالت هم راځي چې د ادبي کره ـ کتونکو له د کتات او دستورونو څخه یې ماغزه اشباع شي. نور نو د څه اورېدلو لپاره ځای نه وي پاتې، له یکنواختنه او کلیشه یي خبرو څخه ستړی شي. په دغه حالت کې د شاعر احساسات طغیان کوي، اخلاق او منطق چا ته پرېږدي چې ورپسې ګرځي، ناصح ته نور غوږ نه نیسي، د خپل زړه په خوښه ګام ږدي، په بې لارو روانېږي، په کنډوالو او شاړو مېرو کې له ایرې شوو ککریو سره د زړه خواله کوي، د دنیوي زخارفو پر سر د خلکو پر های و هوی او وهلو ټکولو باندې خندا ورځي. د زګیرویو او ژړاوو له کلي څخه د جنون دښتې ته پناه وړي او د مجنون په څېر خپل ټول غمونه د لیلا په سترګو کې هېروي.

څه کم دوه نیم زره کاله مخکې چا ویلي وو چې شعر د غمونو بار سپکوي او د غم ځپلي انسان لپاره ډېره ښه پناه ګاه ده. شعر د هغې ګورې ونې په شان دی چې ګرمي وهلی مساپر یې سیوري ته کښیني.

شاعر غیر عادي خبرې کوي، چې د محاورې له سویې پورته دي، هغه په دغو غیر عادي او ساحرانه خبرو زموږ ذهن تسخیروي. د مبتذل ژوند له محدود او کلیشه یي چوکاټ څخه مو راباسي. یوه شېبه مو د رنګونو او خیالونو جهان ته بیایي، د ده له عینکو څخه جهان او حوادث بل ډول ښکاري. نه پوهېږي چې دی څه وایي اوکه یې نه وایي. خو هر څه چې وایي ښکلي یې وایي، د ده په وینا کې یو ډول سوز او جذبه او یو ډول آهنګ او زمزمه احساس کېږي. دی په ښکلا مین دی. په ژوند کې خوند غواړي. په خوند کې تنوع غواړي. په تنوع کې نوښت غواړي. په نوښت کې ښایست غواړي...

دغه کتاب په پښتو شعر کې د نوښت مسألې ته وقف شوی دی او نوښت لري. په دې کې شك نه شته چې د نوښت په برخه کې هم مختلفې نظریې شته، په یوه لحاظ خو کائنات د سترگو په رپ کې نوي کېږي او په همدغومره لږ وخت کې د شیانو ځای، د وقوع شېبه او له نورو شیانو سره روابط تغییر کوي. سره له دې، موږ د هرې شېبې تغییر ته نوښت نه وایو، موږ دغه نوښت ته زړښت هم ویلی شو، یعنې هر شی چې نوی کېږي زړېږي. ځینې وایي چې موږ فقط هغه څه نوي بولو چې ضروري وي، اما پوښتنه دا ده چې ضروري به څنگه وپېژنو، په هره زمانه کې خلك ځینې ضروري پېښې ضروري بولي. خو وروسته معلومه شي، چې هماغومره ضروري هم نه وي. ډېرو پخوانیو جبارانو خپلې غوښتنې د تاریخ جبر گڼلې دي، خو داسې ښکاري چې تاریخ د افرادو د ارادې او غوښتنې تابع نه دی.

که موږ د شعر نوښت له هنري نوښت سره په ارتباط کې وڅېړو نو د ادبي کره کتنې کار به مو اسانه کړی وي، هنري نوښت که له یوې خوا د ټولنیزو شرایطو سره نه شلېدونکی تړون لري له بلې خوا د همدغو شرایطو اسارت هم نه مني، بلکې خپل نسبي استقلال ساتي. د دې امکان شته چې د ټولنیز رکود په وخت کې دې د شعر او ادب په بن کې تازه او رنگین سبکونه وغوړېږي او بالعکس په بسیا ټولنه کې دې د شعر گلبوټې لازمه وده و نه کړي.

د مثال په توگه، په سراجیه دوره کې د اماني دورې په نسبت د شعر او ادب برخه غني ده، حتی هغه شاعران چې په ناوړه شرایطو کې خپل غږ پورته کوي په مناسبو شرایطو کې چوپیا غوره کوي او له شعر ویلو نه لاس اخلي، موږ نه پوهېږو چې په کوم وخت کې به ستر شاعران وزیږېږي؟

پخواني خلك هم په دې رمز نه پوهېدل. دا ځکه چې ځینې ستر شاعران له کنډوالو نه راغلي دي او ځینې له ښکلیو ماڼیو، ځینې

شاعران د بحران بچیان دي او ځیني د رفاه او پرېمانۍ، ځیني په بدبختۍ کې قانع او خوشبینه دي او ځیني په تنعم کې ناراضه او بدبینه، ځیني مطیع او آرام دي او ځیني عصیانګر او سرکشه، ځیني عالمان دي، خو ښه شعرونه نه شي ویلی او ځیني بې سواده دي مګر خواږه او له سوز نه ډك شعرونه وایي.

د شاعر د پېژندلو لپاره میخانیکي توجیهات څه ګټه نه لري. کوم خاص معیار نه شته چې له یوه شخص نه دې شاعر جوړ کړي.

وراثت، چاپېریال، بدني جوړښت، اروايي حالات، ټولنيز - اقتصادي موقف، ښوونه او روزنه دا هېڅ یو د شاعر کېدلو لپاره حتمي شرط یا معیار نه دی.

اوس به له شاعر نه شعر ته ور تېر شو: البته زموږ د بحث موضوع نوی شعر دی، ډېر کسان فکر کوي چې نوی شعر هغه شعر دی چې محتوا یې نوې وي او له محتوا څخه د دوی مراد مفکوره یا پیغام دی، دا خبره د ردولو وړ نه ده، لیکن اساسي اهمیت نه لري، په دې کې شك نه شته چې په هر ډول شعر کې یوه مفکوره شته خو کوم شی چې له شعر نه شعر جوړوي، په خپله مفکوره یا ایډیا نه ده، مفکوره په عادي یا مرسل نثر بیانېدای شي، له ساینس نه د هنر توپیر په دې کې دی چې د ساینس لپاره واقعیت او مفکوره اساسي اهمیت لري، اما د هنر لپاره د مفکورې د تصویرولو او تمثیلولو طرز او شکل خاص اهمیت لري.

حتی کېدای شي چې هنرمند په تېره شاعر اصلاً واقعیت انځور نه کړي، حتی کېدای شي چې د شاعر خبرې عقلاني وي، خو سره له دې په زړونو خوږې ولګېږي. کوم شی چې د شعر ارزښت ټاکي. هغه په خپله عاطفه، ښکلا. احساس او آهنګ دی، که په شعر کې علمي، فلسفي او اخلاقي افکار بیان شي، دې ته موږ (نور علی نور) وایو. اما د شعر ارزښت له تخیل، ښکلا، آهنګ او احساس له انتقال سره اړه

نري او دغه توکونه يې د هنريت درجه ټاکي:
تاسو دا لاندې بيتونه سره مقايسه کړئ:

خط په مخ د صنم راغی که سپوږمۍ شوه په هاله کې
دا يې غاښ په خوله کې زېب کا که ژاله شوه په لاله کې

بل بيت:

چې تربيت د يتيم کړينه
ډېر ثواب ګوره لرينه

په اخلاقي لحاظ دويم بيت تر لومړي بيت ډېر ښه دی، مګر د شعريت له پلوه لومړی بيت ډېر ارزښت لري او دويم يې نه لري؛ نو اخلاقيات د شعر ښه والی نه شي تضمين کولی، اما بالعکس شعر کولی شي چې د اخلاقي تعليماتو د اغېزمن کولو او تبليغولو په لار کې ستر خدمت وکړي. اجتماعي مصلحانو، ديني مبلغانو، سياسي لارښوونکو او ايډيالوجستالو د شعر له ساحرانه تأثير او ژورې اغېزې څخه په استفادې سره خپل هدفونه په مؤثره توګه تر سره کړي دي.

دا ډېر ښه کار دی چې شعر د يو سپېڅلي آرمان او بشردوستانه پيغام لپاره په کار واچول شي. خو هغه شعر چې يوازې د يوې مذهبي فرقې، يوه ټولنيز قشر يا صنف يا د يوې ټاکلې طبقې د مفکورو او عقايدو خپرولو ته وقف شوی وي، د ټولو لپاره مقبول شعر نه شي کېدای.

هغه وخت چې پراخ هيومانيستي پيغام ولري نو ټولو زړونو ته لار پيدا کولی شي. شعر چې د هرې سوژې په باره کې وي، د خلکو نېره ويل کېږي. دا خبره سمه نه ده چې د عوامو تفنن، ټوکې، ټنګ ټکور او ساعت تيري ته خوښېږي او يا دوی ورته ضرورت نه لري، هنر په ژوند کې خوند پيدا کوي او بې خوندي ژوند بې ارزښته کوي.

که تر دې ځایه چا دغه لیکنه لوستې وي نو باور لرم چې هرو مرو به یې له ځانه سره ویلي وي: "دا خبرې د شعر له نوښت سره څه اړه لري؟ دویم دا چې دلته ځینې خبرې بې ضرورته ویلې شوي دي، ګټه یې څه ده؟"

که دغه ډول انتقاد د چا په فکر ګرځي نو زما ځواب دا دی چې دلته تر اوسه پورې د قلم څوکه د خنجر په بڼه انځورېږي او د "شعری که خنجر است" په نامه مجموعه خپرېږي، زه غواړم دا ووایم چې شعر خنجر نه دی، بلکې ملهم دی.

زه غواړم دا ووایم چې که له شعر څخه د خوند او تفنن لپاره استفاده وشي او یا د غمونو بار سپك کړي، ادبي کره کتونکي ته نه ښایي چې دغه ډول شعر محکوم کړي او فوراً ټاپه ور باندې ووهي. زه غواړم ووایم چې ادبي کره کتونکي دې له تهدید او شانتاژ نه صرف نظر وکړي. د شعر او شاعر خپلواکۍ ته دې په درنده سترګو وګوري. زما په فکر، د ادبي کره کتونکي پاملرنه باید دې خو اته را واړول شي.

دا کتاب مې سر تر پایه لوستی دی. محقق نور محمد سهیم په خوږه او روانه ژبه ځینې مهمې ادبي مسألې څېړلې دي. د ده واقعبیني او منصفانه قضاوتونه په خبرو کې منطقي انسجام، د معلوماتو پراختیا له ادعا سره د متناسبو مثالونو راوړنه، د تحقیقي میتود رعایت، له ملایم طنز نه استفاده، د ادبي محصل روزنه، د قطب ګرایي پر ځای د تعادل ساتنه او داسې نورې ښېګڼې د دې امکان رامنځته کوي چې له دغه کتاب نه ادبي ټولنې زیاته استفاده وکړي.

په دغه اثر کې د شعر د نوښت مسأله په تاریخي سیر کې څېړل شوې ده او په دې ترتیب د ادبي مورخ لپاره ګټور مواد برابروي. ښاغلی محقق، د یو شمېر نورو محققانو پر خلاف د ادبي تاریخ پر ځای سیاسي تاریخ نه دی لیکلی. د ده د څېړنې ارزښت په دې کې دی چې د ضرورت په اندازه پر ټولنیز اقتصادي او سیاسي چاپېریال باندې

خبرې کوي او اصلي هدف يې دا دی چې ادبي جريانات او تمايلات د وخت له ټولنيز، سياسي جرياناتو او نهضتونو سره په ارتباط کې وڅېړي.

په دغه کتاب کې تر ټولو مهم ټکی دا دی چې لوستونکی د پښتو شعر له ماهيت او ارزښت سره اشنا کړي. د پښتو د ادب بڼ کې ډول، ډول ګلان او حتی ناکاره او هرزه واښه شته، محقق سهيم په واقعبينی سره دا دواړه اړخونه ښودلي دي. البته، دا بېله خبره ده چې ذوقونه مختلف دي، حتمي نه ده چې د محقق سهيم په نظر غوره بېلګه دې د ټولو له خوا د غوره بېلګې په توګه تسليم شي.

سره له دې، ده د شعرونو په انتخاب کې ډېر زيار ګاللی دی، ښه ډېر آثار يې پلټلي دي او د سليم ذوق خاوندی دی، لوستونکی په دغه تحقيقي اثر کې د پښتو شعر له ښکلاوو سره اشنا کېږي، ځوان شاعران له دغه اثر څخه د ادبي لارښود په توګه ګټه اخيستلی شي او د دغه کتاب په هينداره کې د ادبي ټولنې ذوقي تمايلات او غوښتنې په روښانه ډول کتلی شي.

د دغو پورتنيو يادونو په نتيجه کې د محقق نور محمد سهيم دغه علمي تحقيقي اثر مثبت ارزيابي کوم او د ادبپوهنې په ساحه کې يې نوی او ګټور اثر بولم.

(په اوسني پښتو شعر کې د نوښت مساله).

# شهېږې
# که د حساسو شېبو تصوير

"شېبې" د تاريخ د حساسو شېبو تصوير دی. "شېبې" د ټولنې د سرو شېبو هېنداره ده.

هو! سختې شېبې، د ايثار او سربښندنې شېبې، او څوك څه پوهېږي، ښايي د انتظار اوږدې شېبې!

د دغو حماسه جوړوونکيو شېبو لپاره د يوې پښتوانې په توګه

يوه فعال "نقلابي رمانتېزم" ته ضرورت شته.

نن سبا چې تاريخ "زيار ايستونكو" پرګنو ته ډېر درووند او ايثار غوښتونكې رسالت ور سپارلی دی او هغوی په اورنيو مورچلونو كې د زمانې چلېنج ته په خپلو سربښندنو سره ځواب وركوي ليكوال، هنروال اوشاعران د هغو حماسې انځوروي، د ابديت مهر وربانديې لګوي او تراژيدي په هنري آثارو بدلوي.

نن سبا چې د ټولنيزو تضادونو سپرغۍ په ژبورو لمبو بدلې شوې دي، د ليكوالو او هنروالو وظيفه يوازې په ژړولو او خندولو پای ته نه رسېږي، بلكې د هغو عمده وظيفه پوهونه ده.

اما د "شېبې" داستانونه:

په (سيورسات) كې د "تورامير" د استبداد او د آسيايي ډوله ډسپوټېزم كرغېړنه څېره ښودل كېږي، چېرته چې د مكافاتو او مجازاتو يوازينی معيار د امير (مزاج) دی. كه سبا يې به امير له ښي اړخه پاڅېدلی و، نو هر ډول مجرمان به بخښل كېدل او كه بالعكس له كيڼ اړخه به را پاڅېدلی و، نو بيا به وچ او لامده يو ځای سره سوځېدل. د (سيورسات) په كيسه كې چې د تور امير د ډول ډول ظلمونو او شكنجو څخه يوه وړوكې ګوښه تمثيل شوې ده داسې ښكاري چې د (پردل) يوازينی ګناه به دا وي چې هغه زړه ور او بېباكه ځلمی و. د معنوياتو دښمن رژيم په رښتيا سره د جرأت او مناعت خاوندان نه شوه زغملای او كنه نو د رعيت كلمه چې د (څاروي) په معنا ده خپل ماهيت له لاسه وركوي. په فيوډالي نظامونو كې خلك د رعيت (Folk) په نامه يادول او امير د راعي (شپانه) حيثيت درلود.

د "سيورسات" په كيسه كې د داستان د اتل (اصلي كركټر) كره وره تت بريښي او علت يې دا دی چې د داستان راوي (مساپر كاكا) د "پردل" د وژل كېدو لپاره په علت پسې نه دي ګرځېدلی او ښايي چې د علت ښوولو ته به ضرورت هم نه و، ځكه په هغه توره دوره كې د

بېگناه خلکو وژنه د ورځې عام دستور و او د علت مسأله نه وه مطرح.

د "سيورسات" سبك د پښتو يو متداول معياري سبك دی چې په هغه کې شکل له محتوا سره پوره سمون لري. که ليکوال فرصت پيدا کړي کېدای شي چې دغه لنډ داستان ته، له تاريخي منابعو څخه په استفادې سره، د ناول يا ناولټ په بڼه انکشاف ورکړي.

په "تريو تندي" کې د انتروپومورفېزم نښې ښکاري: د طبيعي چاپېريال د انځورولو په ترڅ کې ذهن ورور ورو تراژيدی منلو ته چمتو کېږي. داستان زياتره يوه راپورتاژ ته ورته دی چې په شاعرانه ژبه ليکل شوی وي. په دې کيسه کې د خلکو په تېره د ځوان نسل په کړو وړو کې بدلون يوه مهمه موضوع ده. که دا موضوع لږه نوره هم پسې وپالل شي، د کيسې د توجيه کېدو او زياتې روښانيتا سره به مرسته وکړي. هغه څه چې د دې کيسې په باره کې په خاصه توګه د يادولو وړ ښکاري هغه به د (اتموسفير) يعنې چاپېريال په ذريعه د يوې پېښې بيانول وي. په پښتو ادبياتو کې (د اتموسفير کيسې) زما له نظره نه دي تېرې شوې. څومره به ښه وي چې زموږ داستان ليکونکي په دغه ډول کيسه ليکنه کې هم هغه قريحې وازمويي.

اما زموږ ځوان داستان ليکونکي (د لمر په لور) کې د نوښت په لور روان دی. زما په اند، په پښتو ادبياتو کې اکثر داستانونه فزيکي پېښې، فزيکي اخ وډب او بهرني حالات بيانوي. "د لمر په لور" کيسه برسېره پر دې چې د تصوير په لحاظ اوچت مقام لري د رواني حالاتو او سايکالوجۍ د بيانولو له پلوه يو ابتکاري اثر ګڼل کېږي.

د ګرګر داستانونه که کله کله په تکنيکي لحاظ د بحث وړ دي خو د بديعي خصوصياتو په تېره د احساساتو د انتقال په برخه کې د ډېرو ښو داستانونو په کتار کې درېدلای شي. د مثال په توګه (شېبې) سر تر پايه د انسان په احساساتو لوېې کوي او په اصطلاح د کاڼي زړه هم زخمي کوي. هغه کسان چې د ادبياتو وظيفه د احساساتو په انتقال

او د ایمپاني په پیدا کولو کې خلاصه کوي د (شېبې) غوندې داستانونو ته ډېر ارزښت ورکوي. اما (شېبې) تش رمانتیك داستان هم نه دی، بلکې یو ریالیستی داستان دی چې درمانتسیزم په کپسول کې نغښتل شوی دی.

ښایي پوښتنه وشي: مور چې د "زمان" په دې اوسنۍ مرحله کې ژوند کوو. په اسانۍ سره د داستان مرکزي هسته پېژنو خو ښایي د کوم بل ځای یا کوم بل وخت خلك و نه پوهېږي چې دغه تراژیدي د څه هدف لپاره لیکل شوې ده. ولې پېښه شوې ده. د غمي پلار د کوم آرمان لپاره مبارزه کوله؟ غلط فهمي پېښه نشي: مقصد دا نه دی چې ګویا په هر داستان کې دې د "دغه پېر" تاریخچه شرح شي خو د داستان پېښې باید لږ تر لږه داسې تصویر شي چې لوستونکي، د هر ځای او هرې زمانې چې وي، د تضادونو په علت او د آرمانونو په ماهیت وپوهېږي.

د "شېبې" په پای کې دا کار شوی دی، دا کار لیکوال کړی دی، دغمي د خبرتیا لپاره. بالاخره دا غوټه باید خلاصه شوې وای. خو فقط همدومره، لیکوال حتی د غمي د پلار نوم هم نه دی اخیستي.

د دې پوښتنې یو احتمالي ځواب به داسي وي: داستان لیکونکی حق لري او هنري خلاقیت ده ته اجازه ورکوي چې خپل دریځ له یوه تبلیغاتچي او قضاوت کوونکي څخه بېل کړي، هنروال تبلیغات نه کوي، د مسایلو او پېښو په باره کې قضاوت نه کوي، بلکې فقط پېښې بیانوي، د ټولنیزې سایکالوجي په روښانولو کې خپله ونډه پر ځای کوي، ښه داستان په خپله خپل ځان تفسیروي او خلك قضاوت ته رابولي. د "شېبې" په داستان کې اصلي کرکټر په خپله غمی دی او د داستان مرکزي هسته د هغو ماشومانو د تراژیك حالت ښودل دي چې د هغوی پلرونه د ... له خوا وژل شوي دي.

د اکبر کرګر په دغه وړه مجموعه کې یو سمبولیك داستان (دوه شاهدان)، څینې رمانتیك داستانونه (تلپاتې مینه، تپه او د حسن په

دوهې کې) راغلي دي خو په عمومي ډول د ده په کیسو کې ریالېزم له رمانتسیزم سره ګډ شوی دی او په دې اساس د لویو لیکوالو په پله پسې روان شوی دی.(۱) کرګر د "لوی لیکوال" کېدو لپاره سر له اوسه دوه ډوله مهارتونه په خپل ځان کې روزلي دي: لومړی د تصویر لپاره د شاعرانه ژبې پکارول او دویم په ژوره عاطفي توګه دروانې حالاتو ځرګندول.

داسې ښکاري چې کرګر کلیشه یي، یکنواخته او ارزانو کیسه لیکنو څخه د لیرې کېدو لپاره د نوښت خوا ته هڅه کړې ده. حتمي نه ده چې د اداري کارونو په شان په ادبي تخلیق هم له ډېرې چټکتیا نه کار واخلي، دی د ښو آثارو ایجادولو لپاره کافي استعداد لري.

"شېبې" ښکلی نوم دی، له ښوسنیو شېبو سره متناسب نوم دی او راتلونکي نسلونه به په دې "شېبو" کې زموږ د ژوند له "سرو شېبو" سره اشنا شي.

(شېبې)

۱- ګورکي وایي چې په لویو هنرمندانو کې ریالېزم او رمانتسیزم سره ګډ شوي دي

# "د ځپو پر وزرو باندې"
# مجموعې ته یوه کتنه

"په موج خیزه هیبت راغلی د فلک توپاني کریږې
زموږ بېړۍ یې ډوبله، خپل دریاب یې توپاني شو"

په دې مجموعه کې د تورې شپې هیبتناکې کیسې، د نجات د ساحل پر لورې د مستو ځپو پر وزور باندې د باد بان لرونکې بېړۍ

د حرکت داستان، د توفان د مرغانو لړزوونکی کریږې او د تروږمی په پیڅکه باندې د سره سباوون د غوربدلو انګازې خپرې شوې دي.

په دې مجموعه کې د اوسني تاریخ د توپاني شپېو او حماسه جوړوونکو هلو ځلو د سپرغیو د لښکرو د سرو لمبو د ګلانو او پر اوړده تورتم باندې د رڼا د یرغل داستانونه د "انقلابي رمانتېزه" په سرو پلوشو کې منعکس شوي دي.

❁❁❁

"د څپو پر وزرو باندې" مجموعه، که پر کرونولوجيك بنسټ وردوله شي، نوجوړ زموږ د ټولنې د څو وروستیو لسېزو تاریخ دی. اما په دې تفاوت چې تاریخ تر زیاتې اندازې قشري او بهرنۍ واقعیتونه انځوروي. خو دغه داستانونه ټولنیزه سایکالوجي د پرسو ناڅونو باطني نړۍ، د دوی آرمانونه او د روح ژورتیاوې راسپړي. تاریخ زیاتره وچ او ساړه واقعیتونه بیانوي اما هنري ادبیات د انسان ویده عواطف را وینبوي. د ده تت آرمانونه او مبهمې غوښتنې رڼا ته راباسي، د ده آرزوګانې او اسطورې د مثبت قهرمان په وجود کې تبلور مومي او له همدې امله د هغه کامیابي دی د خپل ځان کامیابي ګڼي او بالعکس د قهرمان په ماتې سره د ده د ذهن فضا دغم او اضطراب په تورو اوریځو کې پټېږي.

متعهد لیکوال دټولنې د وجدان غږ او د روښانه دورنما پیغام راوړونکی دی. د همدردۍ او ایمپاتي (Empathy) په پیدا کولو کې د متعهد لیکوال رسالت ډېر درونډ دی څکه هغه نه یوازې د خپلو همفکرانو لپاره لیکنې نه کوي. بلکې ښایي د ده د کیسو په لوستونکو کې به ځینې کسان له ده سره همعقیده نه وي، نو د هغوی د ذهنیت د اړولو لپاره باید د دوی زړونه او ماغزه هم تسخیر شي او دغه منظور هله تحقق موندلی شي چې منطق له هنریت سره ملګری شي.

د امین افغانپور د عواطفو وړانګې د یوې منطقي پښتوانې په قوت سره د لوستونکي د زړه درویځې ته لاره پرانیزي. په دغه مجموعه کې هر داستان د یوې څوربدلې او کربدلې ټولنې د ژوند رښتینی انځور دی او په ټولو داستانونو کې ټیپیک واقعیتونه د ټیپیکو کرکټرونو په واسطه تمثیل شوی دی، لیکوال د ژوند د ملموسو واقعیتونو د تصویرولو لپاره له مصنوعي رنګ امیزۍ څخه کار نه دی اخیستی، بلکې په ساده او طبیعي رنګونو کې یې د پېښو د پس منظر او د حوادثو د بهیر ماهیت په روحاتي پرداز کې ښودلی دی. لیکوال د خپلې حافظې په کمره کې د ژوند جزئیات په ډېر دقت سره ثبت کړي دي او له کلیوالي ژوند نه نیولي تر ښاري ژوند پورې د ټولو طبقو او قشرونو له کړو وړو، انګېرنو، غوښتنو او آرمانونو سره اشنا دي.

"د څپو پر وزرو باندې" ځای په ځای سندریزه فضا او د شاعرانه خیالونو شپول (هاله) تاوېږي او د داستان پر سینه د شعر مرغلرې ځلېږي.

دا داستانونه په داستاني ژبه لیکل شوي دي او هغه د شاعر خبره: د داستان پیکر د هنري ژبې په رنګین خدمت سره ښکلول شوی دی. د لیکوال د لغاتو پانګه ډېره زیاته ده. حتی قاموس لیکونکي هم له ده څخه لغات پورولی شي. اما د ده مهارت د پانګې په زیاتوالي کې نه. بلکې د هغې په سم او مناسب استعمال کې دی. په ډیالوګونو کې څنګه چې ښایي د ورځنۍ محاورې ژبه استعمال شوې ده.

د امین افغانپور ځینې لنډې کیسې نه یوازې د مفکورې لپاره بلکې د فني او بدیعي مختصاتو له نظره هم کمال ته رسېدلې دي. د مثال په توګه. د دغې مجموعې لومړۍ کیسه "د کلي شپه" زما په اند. یو تمام عیار لنډ داستان دی او "آنچه خوبان همه دارند تو تنها داری".

دلته اصلي منظور دا نه دی چې د هرې لنډې کیسې د مفکورې طرحې. کرکټر. نتیجې او نورو اړخونو په باب مفصله توضیح

وړاندې شي، دا کار نه ګټور دی او نه خونده ور. پرېږدئ چې لوستونکي په خپله په دې باره کې د ځان لپاره قضاوت وکړي خو... (البته يوه غټه خو).

خو هر ډول قضاوت ځانته ټاکلي موازين او معيارونه هم لري. د مثال په توګه کله چې ته وايې پلانۍ کيسه مې ډېره خوښه شوه، ډېره ښه کيسه ده، ستاسې مخاطب ښايي پوښتنه وکړي "څه ښېګڼه لري، ولې دې خوښه شوه؟" البته يو احتمالي ځواب يې داسې وي: "بس خوښه مې شوه نو." اما تر ټولو سم ځواب به يې دا وي چې داستان د مفکورې، فني مختصاتو او بديعي اوصافو له پلوه تشريح کړو. ادبي تيوريستانو او کره کتونکو د ايپيک ژانر لپاره ځينې ضوابط او نورمونه وضع کړي دي. په دې کې شک نه شته چې يوازې ميخانکي اړخ او اسکليټ د لنډې کيسې د موفقيت معيار نه دی، بلکې کيسه روح ته ضرورت لري او سينګار ته اړتيا لري. خو لکه څنګه چې ښکاره ده دا ټول بايد يو له بله اورګانيك پيوستون ولري، د هغو يووالی بايد تحميلي او مصنوعي بڼه و نه لري، له همدې امله ويل کېږي چې هر مضمون د ځان لپاره يو (او د ځينو په عقيده يو څو) مناسب شکل (يا شکلونه) لري.

امين افغانپور په اوسنيو شرايطو کې د پښتو ژبې د يو وتلي او منلي ليکوال په توګه "د دوران جوړوونکو" اتلانو کارنامې له يوه تاريخي، ټولنيز پس منظر سره ترسيم کړې دي او د مستوي هينداره په شان يې اوسني حالات او اوضاع پکې منعکس کړي دي.

❁❁❁

ما يو ځل "دکلي شپه" ياده کړه خو په خبرو کې خبرې پيدا کېږي. ښايي د سريزې لوستونکي (که کوم څوك پيدا شي او خپل ځان په آګاهانه يا ناآګاهانه توګه د سريزې په لوستلو بوخت کړي) د کلي

بافې پر ځای له کانکريټ او مشخصو مثالونو سره زياته علاقه ولري. اجازه راکړئ د لنډې کیسې د ځينو عمده ځانګړتیاوو د ښودلو لپاره "د کلي شپه" وڅېړم:

## مفکوره:

هره لنډه کيسه د یوې مرکزي مفکورې (هستې) د څرګندولو لپاره په کار اچول کېږي. "د کلي شپه" په لنډ داستان کې د یوې غولېدلې "......" څېرې د سلوك تغيير او د ذهنيت د بدلون مفکوره بيان شوې ده. دا د اوسنيو شرايطو يوه ډېره اساسي موضوع ده.

## طرح:

د هرې کيسې په باره کې لومړۍ پوښتنه کېږي چې دا ده: "دا کيسه د څه شي په باره کې ده؟" په فني اصطلاح همدغه پوښتنه داسې بڼه پيدا کوي:

"د دې کيسې طرح راته ووايه." نو طرح په اصل کې د پېښو او عملونو تسلسل او منطقي انسجام ته ويل کېږي، طرح د يو تر بله مربوطو پېښو او عملونو پرمختلونکې لړۍ ده، چې د متضادو قوتونو تر منځ د شخړې په نتيجه کې اوج ته رسېږي او په پای کې د بحران په حل کېدو سره کيسه پای ته رسېږي.

"دکلي شپه" له هماغه پيل څخه د لوستونکي د استعجاب حس راپاروي. کلی ولې چوپ دی؟ او بيا دغې پوښتنې ته ځواب ويل شوی دی. د دې کيسې په طرح کې د کيسه ليکنې ټول موازين په پام کې نيول شوي دي: اريانتيا پاروونکی پيل، د متضادو قوتونو تر منځ مبارزه، د اوج يا بحران ټکی او منطقي نتيجه ده.

## کرکټر:

لنډه کيسه يو اصلي کرکټر لري، داستان ليکونکی د فرعي کرکټرونو پر ځای خپله پاملرنه پر اصلي کرکټر زياته متمرکزه کوي. کرکټر بايد د خپلې طبقې، قشر، يا ډلې ښکارندوی وي چې د انفرادي خصوصياتو په درلودلو سره د خپلې ډلې عمومي مشخصات تمثيل کړی شي.

په دغه کيسه کې له "زه" نه نيولي تر "ګل محمد" او نورو پورې فرعي کرکټرونه دي. د کيسې اصلي کرکټر يا اتل (ماڼوکی) دی چې په پيل کې منفي قهرمان Villain او په پای کې مثبت قهرمان Hero دی.

## ډراماتيکه پېښه:

لنډه کيسه يوه ټاکلې پېښه په ډراماتيك ډول بيانوي، چې اصولاً دغه پېښه د کيسې زړه ګڼل کېږي. په دغه کيسه کې هغه وخت چې ناوې او زوم د دوو توپان ځپلو او ترهېدونکو په شان رېږدي او جلاد خان وژل کېږي ډراماتيکه پېښه ده.

## د اوج يا بحران ټکی:

د بحران مرحله له همدغې ډراماتيکې پېښې سره پيل کېږي او د (ماڼوکي) د ذهنيت په بدلېدو سره بحران پای ته رسېږي.

## نتيجه:

د کيسې نتيجه څرګنده ده، په هغه کې د "....." عناصرو کړه وړه په ښه توګه تمثيل شوي او اکثر يې غوليدلي کسان دي چې د "....." په حقانيت او د ... په لوړو هدفونو او ارمانونو نه دي پوهېدلي

د "ځپو پر وزرو باندې" مجموعه کې د موضوعګانو تنوع ليدل کېږي، هره کيسه يې ځانته جلا تحليل غواړي په عمومي ډول. د کرکټر

کیسې او اروايي کیسې پکې زیاتې دي، د اتموسفیر (چاپېریال) کیسې پکې نه لیدل کېږي.

په ځینو کیسو کې، لکه د "مور سور پړونی" تر عنوان له طرحې سره زیات ارتباط نه لري، خو ښایي چې له طرحې سره د عنوان اړیکې سمبولیکه بڼه ولري، په دغه کیسه کې د کارګرانو ژوند او د هغوی د طبقاتي شعور د ویښېدو لومړنی او اومې ښېلګې بیان شوې دي، ښایي لیکوال به دا ضرورت نه وي احساس کړی چې له اصلي کرکټر څخه قهرمان جوړ کړي او په تشکیلاتي چارو یا تبلیغ باندې یې وګماري، اما د دې کیسې عمده ارزښت دا دی چې په هغې کې د یوې کارخانې دننه جریانات شرح شوي دي او له دې پلوه ښایي لومړۍ کیسه وي چې د ټولنې د کارګرانو ژوند پکې انځور شوی دی.

په دې مجموعه کې "ته اې مقدس لمره!" او "د څپو پر وزرو باندې" طرحې د لنډو کیسو په کتار کې نه راځي، د "هغه سپرغۍ چې په یو وار..." لنډه کیسه د یوې خاطرې په بڼه لیکل شوې ده. د ملا امام او چړیانو په باب د لیکوال خاطره ډېره خوندوره او په زړه پورې ده اما ډراماتیکو پېښو، بحران او نتیجې د ښودلو هڅه پکې نه ښکاري او زیاتره له یو سرګذشت سره ورته والی لري.

د دې مجموعې اکثرې کیسې معیاري او د پښتو ژبې په لومړۍ درجه کیسو کې راځي، ځینې یې "د بنګو بوټي په شان" ښکلي خیالونه او نشه پارونکي کیفیتونه ایجادوي، ځینې یې "د سکروټو ګلان" دي چې اورني احساسات په لمبو راولي، په ځینو کې یې د "تورې شپې د سبا کېدو" هیلې نغښتې دي، په ځینو کې یې د "ترهېدلې مرغۍ" د بې پناهۍ او نهیلۍ تراژیدي بیان شوې ده، په ځینو کې یې د استبداد او دماګوژۍ کرغېړنې څېرې رسوا کړې دي او...

خو د دې لنډو کیسو د ایډیولوژیکي او فني مختصاتو په څنګ کې د لیکوال بدیعي مهارت د یوه ځلانده غمي په شان ځلېږي.

لهٔ دې کیسو څخه عوام خوند اخلي او پروفېشنل یا د تخصص خاوندان پکې ډېر زیاتې ادبي ښېګنې پیدا کولای شي.

کله چې دا لنډې کیسې ولولئ نو دا به درته جوته شي چې په سریزه کې له سلو خبرو څخه فقط یوې خبرې ته اشاره شوې ده او نورې خبرې په خپله لوستونکیو ته ورپرېښودل شوي دي.

(د څپو په وزرو باندې)

# په پښتو لنډو کیسو کې ریالیستي افکار

د نونسمې پېړۍ په نیمایي کې د لویدیځې نړۍ په ادبیاتو کې د لنډې کیسې (Short Story) په نامه یو نوی ژانر باب شو او ډېر ژر یې عام مقبولیت او محبوبیت وموند ، د لنډې کیسې د رواجېدو په لومړیو ورځو کې (اډګارلن پو) په مفصله توګه د لنډې کیسې خصوصیات او تکنیکونه بیان کړل او داېې وښوده چې څینې کیسې به لنډې وي خو

"لنډۍ کيسې" يې نه شو بللای. د (پو) له خواوضع شوي معيارونه تر زياتې اندازې په خپل قوت پاتې دي او په ځينو کې يې يو څه تعديلات راغلل.

پښتو ژبې ته لنډه کيسه د شلمې پېړۍ په دويمه لسيزه کې رانوته، خو له قراينو څخه داسې ښکاري چې د لنډو کيسو ليکونکي زياتره د دغه ژانر له معيارونو او تکنيکونو سره اشنا نه وو.

د هېواد په مطبوعاتو کې په مثبت ډول کله هلته کله دلته د لنډې کيسې د ماهيت په باب ځينې مقالې يا ترجمې چاپ شوې دي، خو په دې برخه کې لا تر اوسه چا کوم سيستماتيك او جامع اثر نه و ليکلی، لکه څنګه چې توقع کېده، د افغانستان د علومو اکاډمۍ د ژبو او ادبياتو د مرکز له خوا د لومړني ځل لپاره د لنډې کيسې د پېژندنې او د پښتو د لنډ کيسو د ځانګړتياوو د څرګندونې په برخه کې يوه پروژه طرح شوه چې د نور محمد سهيم له خوا په برياليتوب سره تر سره شوه.

محترم نور محمد سهيم نه يوازې د معتبرو ماخذونو په مرسته د لنډې کيسې ځانګړنې، معيارونه او تکنيکونه څېړلي دي، بلکې د يو زيات شمېر بېلګو په ارزيابي کولو سره يې د لنډې کيسې د سمت ښوونې او ليکوالو ته د لارښوونې په برخه کې ارزښتمن او د يادونې وړ خدمت کړی دی. د محترم نور محمد سهيم د ليکنې سبك خوږ، جالب، او له ادبي طنز او باريکيو څخه ډك دی، زموږ د هېواد په اوسنيو شرايطو کې به د دغه مهم اثر خپرونه د لنډې کيسې د رسالت، هدفونو او معيارونو په پېژندنه کې د ادبياتو له مينه والو سره پوره مرسته وکړي. زما په پوهه، دغه اثر نه يوازې په اکاډميك لحاظ د منلو وړ دی، بلکې د ادبياتو په ساحه کې ورځنيو اړتياوو ته هم ځواب ورکوي. د پښتو لنډو کيسو کې رياليستي افکار، د څېړنې د ميتود له پلوه هم په ښه توګه تنظيم شوي دي او عمده ښيګڼه يې دا ده چې د منطقي

تسلسل په ترڅ کې يې تيوري او پره تيک په اورګانيک ډول سره يو ځای کړي دي او علمي مفاهيمو ته يې انسجام ورکړی دی. لنډه دا چې پوهنتنی اثر د يوه علمي ضرورت په اساس ليکل شوی دی، له ثقه او معتبرو ماخذونو څخه يې ګټه اخيستې ده، ابتکاري ونډه يې زياته ده او د علمي ميتود موازين يې په پام کې نيولي دي او تر ټولو مهم اړخ يې دا دی چې د عملي مثالونو د راوړلو په ترڅ کې د اکثرو داستان ليکونکو لپاره د يو مترقي لارښود حيثيت لري. د دغو يادونو په نتيجه کې زه د نور محمد سهيم نوموړی اثر مثبت ارزيابي کوم او په دې برخه کې د ده زيات بريالیتوبونه غواړم.

(په پښتو لنډو کيسو کې رياليستيک افکار)

## هغه آثار چې دانش کتابخانې خپاره کړي

| | |
|---|---|
| ۱ - سفر ها و خاطره ها - | حامد علمی |
| ۲ - ارتش سرخ در افغانستان - | گروموف |
| ۳ - رجال و رویداد های تاریخی افغانستان - | احمد علی کهزاد |
| ٤ - در زوایای تاریخ معاصر افغانستان - | احمد علی کهزاد |
| ۵ - احمد شاه بابا افغان - | میر غلام محمد غبار |
| ٦ - افغانستان در طلسم دایره شیطانی - | داکتر سید عبدالله کاظم |
| ۷ - مزارات شهر کابل - | محمد ابراهیم « خلیل » |
| ۸ - ضرب المثل های افغانی - | میرپور |
| ۹ - شب های آوارگی - | خلیل الله خلیلی |
| ۱۰ - لیکوالي املا - انشا - | گل پاچا الفت |
| ۱۱ - سوځیدلی جنت - | شهرت ننگیال |
| ۱۲ - سرې لښکرې په افغانستان کې - | گروموف د داود جنبش پښتو ترجمه |
| ۱۳ - چنار خبرې کوي - | د پیر محمد کاروان د شعرونو مجموعه |
| ١٤ - بدیع او پښتو شعر - | اورنگ زیب ارشاد |
| ۱۵ - مساپر - | د اکبر بری د شعرونو مجموعه |
| ١٦ - نومیالی غازي - | اورنگ زیب ارشاد |
| ۱۷ - ژوري خبرې - | میرزا علم حمیدی |
| ۱۸ - د پښتنو بغاوت - | ووسنام ملز - دداکتر خالق زیار پښتو ترجمه |
| ۱۹ - ادبی لیکونه - | پوهاند صدیق الله رښتین |
| ۲۰ - د لیکوالۍ فن - | سید محی الدین هاشمی |
| ۲۱ - دوه مخي کسان (طنزونه) | میرزا علم حمیدی |
| ۲۲ - وری ځنګه لیوه شوه (طنزونه) | میرزا علم حمیدی ترجمه |
| ۲۳ - پندونه او خوندونه (طنزونه) | کاتب پاځون |
| ۲٤ - د بنجاره هتۍ (طنزونه) | کاتب پاځون |
| ۲۵ - دولتی موټر (طنزونه) | کاتب پاځون |
| ۲٦ - د ښار په استدیوم کې (طنزونه) | کاتب پاځون |
| ۲۷ - دیگونه او شعرونه (طنزیه نظمونه) | کاتب پاځون |
| ۲۸ - سړی ځنګه ښځه شوه؟ (طنزونه) | کاتب پاځون |

دانش کتابخانه: دهکی نعلبندی، قصه خوانی بازار، پشاور



## د استاد روهي چاپ کتابونه:

۱) د ښېړنې لاربښود: پښتو ټولنه، کابل ، ۱۳۵۴.
۲) پښتو په بېلګه يي جملو کې: پښتو ټولنه، کابل، ۱۳۵۷
۳) ادبي ښېړنې: ننګرهار پوهنتون، ۱۳۶۰.
۴) د ژبښودنې مسألې: د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۱.
۵) د ادب او فوکلور په باره کې: د چاپ او خپرولو کميټه، ۱۳۶۵.
۶) فوکلور پېژندنه: د افغانستان د علومو اکاډمي، ۱۳۶۵.
۷) د پښتو معاصر ادبيات (دوه جزوي)، کابل پوهنتون، ۱۳۶۶.
۸) شعر پېژندنه، لاهور، ۱۳۷۵.
۹) جنګ داخلی افغانستان چګونه پايان خواهد يافت؟: د آزاد افغانستان د ليکوالو ټولنه، پېښور، ۱۳۷۵.
۱۰) رنګين تعبير: دانش کتابخانه، پېښور، ۱۳۷۷.

يادونه: استاد ناچاپ آثار هم لري.

Download from:aghalibrary.com